# کیسه ګی

په پښتو ژبه کې د کیسه ګیو (مینیمالونو) لومړنۍ ټولګه

عبدالله الهام جمالزی



د افغانستان د ژباړې او څېړنې مرکز له انتشاراتو څخه

# کیسه ګۍ

**په پښتو ژبه کې د کیسه ګیو (مینیمالونو)**
**لومړنۍ ټولګه**

لیکوال
**عبدالله الهام جمالزی**

**بسم الله**

# کیسه ګۍ

لیکوال

**عبدالله الهام جمالزی**

ناشر (خپرندوی)

**د افغانستان د ژباړې او څېړنې مرکز**

چاپکال

**۲۰۱۴ز**

چاپشمېر

**۱۰۰۰ ټوکه**

پر پښتۍ د لیکوال انځور

**نثار احمد ایثار**

ډیزاین

**سپین سهار**

چاپځی

**اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

د دغه اثر ټول مادي او معنوي حقوق
(د افغانستان د ژباړې او څېړنې مرکز)
سره خوندي دي.



په دې پوهېږم چې لیکوال تنها وي؛ زه هم د هغو یوازېتوبونو منندوی یم، چې دا لورېینې یې راباندې پیرزو کړې، که څه هم له اسویلو سره...

ډالۍ:

**د پښتو داستاني ادب ټولو لیکوالانو ته په مینه ډالۍ دی!**

# د لیکوال سریزه

د لوست په تیره بیا د کیسې لوست داسې هڅه ده چې د غوښتنې او اړتیا جامع بیان یې راته ستونزمن دی؛ خو لکه د بل هر لوستونکي په څیر مې ورسره علاقه ساتلې او هڅه مې یې کړې؛ مګر داسې احساس کوم چې په دې وروستیو کې مې دا هڅې ټکنۍ شوې وې چې خپل لاملونه به لري خو هغه چې دلته د یادولو وړ دي، ښایي یو یې دا وي چې زما په نظر د وخت او نورو بوختیاوو سیوری پرې تر نورو یو څه جوت و.
لکه د ژوند بله هره برخه چې له وروستیو اوښتونونو او بدلونونو سره بدلې او حتی اوښتې ده زما د لوست او په تېره بیا د کیسې د لوست هڅه هم ښایي تر ډېره له دغه اوښتون او بدلون اغېزمنه شوې چې اوس مې حتی په چاپي آثارو کې هم پنډو آثارو ته سترګې سپینې شي او په انټرنټ کې هم د اوږدو کیسو د لوستلو هڅه نه کوم او دغه راز د لیکوال په توګه هم خپل مخاطبان همداسې انځوروم.
ډېر داسې وخت راغلی چې د ناول یا لنډې کیسې لیکنې په جریان کې به چې کیسه ډېره غځېده دا احساس به راسره پیدا شو چې هسې نه چې د لوستونکي له حوصلې ووځي چې دا ولولي خو بیا به مې د کیسو د شتون فلسفې او په دې برخه کې د نورو لیکوالانو او آثارو په ذهن کې خطور دا قناعت راکاوه چې شته د ناول او لنډو کیسو لوستونکي خو تر څنګ به مې دا هڅه هم کوله چې هغه لوري چې د لا لنډو کیسو مینه وال دي هم باید خپله برخه ولري.
د کیسه ییز ادب د اړوندو آثارو په لټون کې مې په بهر کې ګڼ نور کارونه لیدلي؛ د نورو ژبو په مشهورو انتشاراتو کې مې ګڼ داسې آثار لیدلي او



لوستي چې زه فکر کوم لیکوالانو یې هغه لوستونکي په پام کې نیولي وو چې کیسه لوستل یې غوښتل خو په هغو چوکاټونو کې نه چې موږ یې ناول او یا لنډه کیسه بولو؛ دوی به یا ورته مینیمال، یا فلش فکشن یا ډېره لنډه کیسه او یا هم نور نومونه درلودل چې تر ډېره یې زه هم لوستلو ته لیواله وم.
د انټرنټ پر مخ لیکل او خپرول چې د کاروونکو لپاره پوره پوره آسانې پکې ده زما لپاره بل لامل شو چې تر ډېره د دغه راز لنډو او مینیمال لیکنو پلټنه وکړم او ویې لولم؛ او همدا هم لامل شو چې هغه موضوعات چې غوښتل مې بیان یې کړم یا مې حتی د لنډو کیسو لپاره د طرحو په توګه په ذهن کې وې په لنډو ټکو کې د بیان هڅه یې وکړم؛ دا هڅه مې هماغه وخت پیل کړه خو د ټولنیزو شبکو له ودې سره مې په دې لیکلو مخامخ غبرګونونه هم په آسانۍ ولیدل او په دې برخه کې نور کار ته لا هم وهڅېدم؛ خو د چاپ په اړه یې نو دا ټولګه لومړنۍ هڅه ده.
په خپله د کیسه ګۍ د کلمې د دغه ژانر او د لیکنې په ډول او ځانګړنو ډېر څه نشم ویلای، هغه څه چې د مینیمال لیکنې په دې فورم او ډول نور لیکوال وایي ما هم لوستي خو څه چې پوهېږم دا دي چې په تر ټولو لږو ممکنه کلمو سره په پیاوړي او دقیق بیان سره ستر مفهومونه او انځورونه په ځان کې راونغاړي چې په پښتو ژبه کې ما خپله ډېر کم یا شاید هیڅ نه دي لوستي؛ چې دا هم ښایي زما خپله ستونزه وي.
البته په دې ټولګه کې یو شمېر ژباړې هم چې زما وخت نا وخت یاد ته راغلې او یا مې هم لوستې دي ما راټولې کړې تر څو لوستونکي د دې انتخاب هم ولري چې بهرني مینیمالونه هم ولوستلای شي؛ یا هم ښایي داسې څه په دې مینیمالونو کې وي چې ځینې وخت ښایي انځورګري او د بیان ډول او نورې داسې ځانګړنې ولري چې حتی په همدې ټولګه کې له نورو کیسه ګیو ډېر توپیر ولري خو فکر کوم یواځې په دې خاطر مې یې دلته د راوړلو هڅه وکړه چې مینیمالونه دي او خپله مې فکر کاوه چې

ښايي لوستونکو ته په زړه پورې وي.
دا ټولګه مې په یو څه تنګ وخت کې او په لږ څه بیړه چمتو شوه؛ چې که یو څه ډېر وخت وروسته په دې آثارو له بیا بیا کار او زیار وروسته خپره شوې وای ښايي ډیری کمزورۍ له منځه تللې وای؛ خو د چاپ هڅه مې یې ځکه وکړه چې که څه هم دا هڅې لومړنۍ دي له خلکو سره یې شریکې کړای شم او په راتلونکو آثارو کې د لا دقیق کار هڅه وکړم.
دلته اړینه ګڼم چې د دوه پیاوړو لیکوالانو درانه وفا سمندر او درانه علم ګل سحر ډېره مننه وکړم چې زما دا ماتې او ګوډې یې ولوستې او د دې تر څنګ چې د یوې ټولګې په توګه یې د هغو چاپ ته وهڅولم لارښودونکې لیکنې او سریزې یې راته ولیکلې چې په ریښتیا یې ما ته د دې جرات راکړ چې د ټولګې په بڼه یې خپرې کړم؛ او د دوی د لارښونو سره سم په خپلو راتلونکو لیکنو کې هغه تشې چې اوس شته ډکې کړم تر څو خپله هغه مینه چې له دې برخې سره لرم ماته کړای شم؛ دغه راز د ټولو هغو ملګرو چې د دې ټولګې د چاپ سپارښتنه او هڅونه یې وکړه ډیره ډیره مننه کوم!

په درنښت

عبدالله الهام
نوی ډهلی، هندوستان
د ۲۰۱۴ د فبرورۍ پنځلسمه



# کسیه گۍ! پښتو ادب ته هرکله راشې!

خو لومړی له لیکوال سره:
ګران جمالزی! هیله ده زما سلامونه او نېکې هیلې ومنئ!
ډاډه یم، هیله مو دا وه چې تر دې دمخه زما نظر او لیکنه تر لاسه کړئ! حیرانېږه مه، زه هم داسې یم! ځکه نو غواړم د لیکوال یا پنځوال دا ډول دروني وضعیت په اړه، خپله شخصي موندنه در سره شریکه کړم.
هغسې چې یوه مور ددې تږې وي، چې له هر لیدونکي څخه د خپل (ماشوم) په اړه «ښه» واوري؛ صفت او تعریف یې وشي، دغسې لیکوال هم د خپل هنري اولاد په اړه، سخت د نورو نظر-او شاید هم ستاینې ته د انتظار سترګې نیولې وي!
له یوه نظره دا یې حق هم دی. ځکه چې پنځوال په ټول وس سره، خپلې تازه خیالي تجربې، د کلام په لباس کې را بربنډوي، نو باید انصاف موجود وي، او د ښکلاو هرکلی وشي؛ خو ستونزه داده، چې هر یو دغه انتظار لري. او هر یو خپلو نالوستلو، نالیدلو، او شخصي او فردي ستونزو، مشکلاتو، غمونو، رنځونو، یوازیتوبونو...دومره سوزولي یو، چې د یوه مینه ناک هرکلي حق ځانته خوندي ګڼو !
ښه داچې زما له دې شخصي تبصرې سره موافق یې یا نه یې موافق؛ ستا حق دی، خو ما وضعیت داسې موندلی !
اوس به راشو هغه څه ته چې تاسو کیسه ګۍ نوموئ!

## زما نا بلدي

غوره ده اعتراف وکړم، چې له دغه ادبي کیسه ییز قالب سره زما آشنایي تازه پېل کېږي. ځکه نو له دې دریځه، چې کیسه- که په هر قالب کې وي-

باید عمده کیسه ییز عناصر خوندي کړي، دغه لیکنه غځوم. په دې خاطر ده، په یوه بې‌طرفانه ماشومانه ذهني دریځ ددغه تازه ماشوم نندارہ او خپله شخصي نندارہ را په ډاګه کوم .

## دا هم ددغه ماشوم څو لیدلي عکسونه:

ستاسو کار یو نوښت دی. دغه مختصر، خو پر ځان راټول قالب، پښتو نثر کې-بیا کیسه ییز نثر کې- یوه ښه زیاتونه ده! ځکه نو زه هم ستاسو کار ستایم او په دې لاره کې درته د لا ښه، لا ژور او لا پاخه مزل هیله کوم!

زموږ ادبیاتو کې د کیسه ګی زېږون، یو پر وقت برابره پېښه ده. ځکه ټول د وقت اقتصاد په مخه کړي، او غواړي هرڅه په بیړه- ولو که هغه ادبي مطالعه هم وي- تر سره کړي. ښایي زما د پنځونو یوه ستونزه دا وي، چې عام لوستونکي ورځخه په خوا تېرېږي. ځکه چې نشم کولای، ووایم: هغه موټر دی. اوس موټر حرکت کوي، هغه ده موټر هارند وکړ. هغه دی موټر...

خو دلته مساله بل ډول ده! دلته یوه خبره، یوه نیمګړې جمله غواړي یوه بشپړه کیسه شي! دغې ټولګې څخه بربښي، چې الهام جمالزي هڅه کړې، خپل دروني احساس انځور کړي. خو ذهن سم لاس نه ورکوي (۴ مه ګیسه ګی وګورئ).

دا قالب نوی دی، ځکه نو وخت غواړي، چې په یوه پخه او حساب وړ ادبي قالب واوړي. پښتو ژبه کې د پخوانی تجربې نشتې- او ښایي د لیکوال ببېړې- ددغه قالب ډېری بېلګې، له ژبني، ګرامري، او نثري پلوه متاثرې کړي. خو هیله شته، چې لیکوال به د خپل تعهد ته ټینګ پاتې شي، د نثر، املا او انشا جوړښت او رغښت ته به توجه زیاته کړي، او نوي آثار به له ژبني پلوه هم ښه پر معیار او ژبنیو اصولو برابر وړاندې کړي -څومره به ښه وي، چې ددغه ټولګې ژبه هم یو ځیرک ایدیټور ښه فلتر کړي .

ځکه نو وړاندې تر نور بحث څخه خپل نظر داسې راغونډوم:



ددې ټولګې لویه ستونزه (که چېرې لویه ستونزه پسې راوتي یاست) د جملو او جملو کې د کلمو اوبدل او د کلمو تر منځ اړیکې جوړول دي(د مثال په ډول ۲۴مه یوه، یا ۲۷ مه، دغه راز ۲۹ مه کې د مبتدا او خبر ستونزه له ورایه خپله بدرنګي ښیي. ځکه نو زما وړاندیز دادی، چې باید دغه غونډ یو په کسیه پوه ایدیټور، په دقیقه توګه ورغوي، کره یې کړي، د جملو جوړښت، لیک نښې او نوره نثري ښکلا یې ښه یو لاس او منسجمه کړي .

## ټولګه د شکل او مضمون له پلوه:

کله کله ټول متن (ټوله کیسه ګی) فقط یو ډیالوګ دی. کله کله، بیا د یوې خاطرې بڼه خپلوي. د سرلیکونو پرځای له شمېرې کار اخیستل شوی. ښه داده، چې هره یوه یې نوم ولري. ځکه اوس که څوک غواړي، ددغې ټولګې یوه بیلګې را یاده کړي. ځانګړې بیلګه به څرنګه په ګوته کوي. ځکه نوم یا سرلیک ته اړتیا ده او دا یې ښکلا، لوستل، او مقام پیاوړی کوي.

## غوره بېلګې:

وخت یې دی، چې څو غوره بېلګې را یادې شي:

دویمه، پنځمه، اوومه (چې ترجمه شوې)، یولسمه، ۲۸ مه (دا ښه انځوریزه ده) کامیابې تجربې دي.

نهمه: دا څو معنایي ده. کلمې یې تصویري. خو په لسمه کې بیا کلمو مشکل جوړ کړی. دا وګورې: «پسې وځوربده» داستاني ودانۍ تر دې رنګینې خښتې غواړي، او لیکوال دا کار کولای شي.

په ۱۳ مه کې ماشوم لوی شوی او لوی ماشوم شوی. او دا یې ښه والی او کامیابي ده. ۱۵ مه کې د «هیلو» ستونزه را یاده شوې. هماغسې چې بودا او معاصر معنوی مکتبونه ارزو یا هیله د بدبختیو مور ګڼي.

په ۲۸ مه کې، کله چې سړی د کیسه ګی پای لولي: «پلار په ارامه ځواب

ورکړ: کیشپ...» په رښتیا چې ښایسته پای یې موندلی .

۳۳ مه داسې بېلګه ده. دلته «روغتون»، «عاجله برخه»، «چپرکټ»، «ځوان»، «ځېر سترګې»، «ټکوله»، «مړې مړي» او بیا هم «چپرکټ» دا کلمې هره یوه، شخصیت پیدا کوي او د کلمو دا وړوکې مجموعه (۳۳مه ګیسه ګۍ) په یوه قوت بدلوي .

۵۸ مه، دلته «سوله» په جشن راوتې که نه یې منئ وګورئ: «د وېالې په رڼو اوبو کې خپلو سپینو وروځو او ګونځې، ګونځې څېرې ته مسک شو، د څادر په پېڅکه کې تړلې وچه ډوډۍ یې له اوبو سره کپ کپ وخوړه او آرام وېده شو«...

او ٦۱ مه وګورئ: په پلاستیکي بوټونو کې د باران د اوبو او پښو د چړپ چړپ منظم غږ د موټر د توند (سخت) بریک په وېروونکي غږ کې پای ته ورسېد...» څومره درد دلته تابلو شوی .

## لنډون ددغه قالب غوره امتیاز

یو شمېر بیلګې د خپل پای له پلوه ځانګړې دي، په تېره بیا ۲۰ مه کې،«خوښېږي مې بس...»  ۲۱ مه کې «چې په باران کې یې انځور کړم...» ډېر ښایسته راغلي...همداسې نورې پخپله موندلای شئ .

نورې هغه بېلګې، چې لنډون یې غوره امتیاز دی: لکه ۳۲ مه یوه. یا ۳٦ مه، یا ۳۹ مه یوه، او ۴۱مه خو لویه ویرنې ده: «وېل یې ځم که خدای کول، ډک لاس را وګرځم، لاړ بېرته هېڅ رانغی...» تر هغې لاندې بېلګې(۴۲، ۴۳، ۴۴، ۴۵، ۴٦... داسې دي .

دا وروستۍ یوه (۴٦) مې چې لوستله، وېل مې خپله دی؛ الهام دلته خپل عکس اینښی .

خو (٦۲) بیا جلا یوه ده: «دا غږ هومره لوړ ؤ، چې نور یې نه اورېده...» آفرین پر داسې اورېدونکي او د هغه په لیدونکي او پنځوونکي .



## فلسفي او رواني اړخونه:

سره له دې، چې جمالزی، په سریزه کې ددې قالب ځانګړنه ساده والی، او له فلسفې او روانپوهنې جداوالي ښي، خو شته داسې بېلګې، چې متن په فلسفه او روانپوهنه کې نښتی (د لنډون په خاطر ور څخه تېرېږم).

خو ددې برخې یو ښه مثال (٦۰): «غوښتل یې نوی څیز ومومي، ډېر یې وموندل؛ خو بیا یې هم نوی څېز نه درلود...» دلته انسان د خپل ذهن او ذهني پوهې زړښت او بې ژونده والي په ډاګه کوي او دا یو هغه کار دی، چې د کار سړي یې باید په شخصي تجربه وموميٍ .

## وروستۍ یادونه

بیا وایم چې دا قالب موږ ته نوی دی، دغه شان زما لپاره هم تازه خبره ده، چې څه پرې ولیکم؛ خو د جمالزي غوښتنه وه؛ نو په خپله لیکنه کې خپلې خبرې راپه ډاګه کوم، ځکه نو دغو بېلګو کې کمزورۍ وینم: ۳ یمه، ددې کیسه ګۍ پېچلتوب، او د معنا او مفهوم له پلوه ګډوډۍ، وضعیت کړکیچن کړی .

په هر حال زه تر ٦۴ مې شمېرې مخته ولاړم. دا چې دا لیکنه زما لپاره یو بېړنی- خو مینه ناک- کار وه، نو پاتې خبرې- که د خدای تعالی اراده وه- به په خپل وخت په متن واوړي .

پای کې یو ځل بیا زه ښاغلي جمالزي ته ددغې ټولګې مبارکي ورکوم. هیله لرم، د خپل زحمت قیمت، له ژبني پلوه د ټولګې په رغولو، سرلیک ورکولو او د ټولو بېلګو او متن یو ځل له سره کتلو او بیا ځل رغولو سره، هغې پوړۍ ته لوړ کړي، چې بې له شکه جمالزی او دا ټولګه یې مستحق دي .

زړونه او ذهنونه مو د رنګین او آهنګین تخلیق په سرچینه کې خړوب اوسه

وفا سمندر

# سریزه

په ۱۹۶۰ میلادي لسیزه کې د مینیمالیزم غورځنګ زیاترو هنرونو ته لاره پیدا کړه. په همدې وخت کې مینیمال داستانونه رامنځ ته شول او سوکه سوکه د یوه ځانګړي ژانر په توګه وپیژندل شول. لنډ خو بډای د مینیمال هنرمندانو مشهوره جمله وه چې د لومړي ځل لپاره انګلیسي شاعر او ډرامه لیکونکي رابرټ براوننینګ Robert Browning وکاروله. او دا د مینیمالستي کیسو تر ټولو مهم خصوصیت دی ورسره دا هم وایي چې لږ هم ډیر دي.

د مینیمالستي کیسو د ځانګړنو په اړه ویل شوي چې دا ډول کیسې ساده طرحه لري، ځایزمان پکې محدود وي، زیاتره کرکټرونه یې عادي خلک وي، ژبه یې ساده د کرکټرونو او پیښو په برخه کې یې په پوره اندازه سپما شوي وي. یعني په دې ډول داستانونو کې د یوه کس د شخصیت ټول اړخونه او یا د ژوند ټولې یا ډیرې پیښې نه راځي بلکې په ورځنیو پیښو تته رڼا اچوي. یعني معمولاً یو کرکټر په یوه پیښه کې رانغاړي کیدای شي د مینې مالستي



کیسې یوه پیښه په یوه ورځ یا څو ساعتونو کې وشي. نږدې ده ووایم چې د یوه کس د ژوند یوه شیبه داسې را اخلي لکه په تیاره کې چې د څراغ چټکه رڼا په یوه شي ولویږي خو ژر له سترګو الونیا شي. په دې ډول داستانونو کې د مقدمې، د شخصیت د پرورش، د پیښې لپاره د زمینه سازي وخت نه وي یا ډیر محدود وي.

د مینیمال کیسو کلیمې او جملې لنډې وي ښه به وي چې د دا ډول کیسو یوه کلیمه د څو کلیمو او یوه جمله د څو جملو ځای ونیسي. یعني لکه څنګه چې دا کیسې د کمیت له مخې لنډې دي باید د کیفیت له مخې هم لنډې وي. په کیسه ګیو کې د مفهوم رسولو لپاره سمبولیک اړخ ته هم ډیره پاملرنه کیږي او په لنډو کلمو او جملو کې مفهوم بیانیږي. استاد اسدالله غضنفر یو وخت له انګریزي څخه یوه مینیمال کیسه را ژباړلې وه ټکي په ټکي مې په یاد نه ده خو ټوله تقریباً داسې وه:( له یو بل ستوري یو کس راغی د امریکا ولسمشر یې هرکلي ته ورغی د سترې مه شې په وخت کې یې ورته وویل: ښه راغلاست. هغه کس ښکته پورته ورته وکتل ویې ویل: ولې مو زموږ وطن داسې راته خراب کړی دی) کیسه همدومره وه خو له بل ستوري د راغلي کس په خبره کې یو مفهوم پروت و چې په سمبولیکه بڼه ډیر لنډ بیان شوی دی. مطلب داچې هغه څه چې ستاسې دي خپل یې مه ګنئ او ډیر مه پرې نازیږئ.

د پخواني تصور برخلاف ژانرونه همیشه ثابت نه وي یو ژانر ممکن یو وخت ډیرو ته د منلو وړ وي خو د وخت په تیریدو سره یې کیدای شي ځای بل ژانر ونیسي یا پکې د زمان د اړتیا له مخې بدلونونه راشي. د مینیمالستي کیسو منځ ته راتګ هم د همداسې یو ضرورت زیږنده بللی شو.

موږ به چې کله کیسه لیکله نو په اوږده مقدمه به مو پیلوله له کوم ضرورت پرته به مو اقلیم تشریح کاوه او د پیښې سیمه به مو رسامي کوله. ترڅو به چې د کیسو پیښو ته رسیدو لوستونکی به مو ښه ستړی کړی و، دا

دا ډول کیسې په هغو معیارونو چې د مینیمال کیسو لپاره په پام کې نیول شوي دي، پوره برابرې نه دي خو په دې برخه کې لومړني ګامونه یې بللی شو. له نیکه مرغه باید ووایو چې اوس په نورو برخو کې هم د لیکوالو توجه لنډ لیکنې ته اوښتې ده. په وروستیو کلونو کې د شعر په برخه کې موږ د همداسې یوه بدلون شاهدان یو. دا ښه خبره ده چې موږ یوازې هغه خبره وکړو چې په ذهن کې مو ده. د یوې وړې خبرې د رسولو لپاره ولې موږ خپل لوستونکي ستړي کړو. همدغه تمایل اوس د مقالو په برخه کې هم په راټوکیدو دی. آبله ورځ محمدیار یار وویل چې نیت لري د ارواښاد استاد محمد صدیق پسرلي د وفات په مناسبت د ښکلا مجلې فوق العاده ګڼه چاپ کړي، هلته له حاضرو لیکوالو یې په دې اړه د مقالو غوښتنه وکړه هر یوه وعده وکړه، ما ومان نیازي ته مخ ور واړاوه. ومان صاحب وویل: ما د استاد په اړه وړې وړې خبرې لیکلې دي اوږدې مقالې ته ضرورت نسته همدا به ورکړم. د هغه خبره مې خوښه شوه. ښه به وي چې موږ په هره برخه کې یوازې هغه څه ووایو چې ویل یې غواړو. موضوع نوې وه خبرې رانه ډیرې شوې، را به شو د الهام جمالزي صاحب دې نوښت ته. تر کومه چې زه جمالزی صاحب پیژنم یو پرکاره نوښتګر ځوان دی، هغه هڅه کوي په هره برخه کې د نوښت خوا ونیسي. ده ډیر دمخه دا ډول کیسو لیکلو ته مخه کړې وه خو مالیدل چې د هڅونې تر څنګ په دې برخه کې له ستونزو سره هم مخ دی. یو شمیر خلک دده دا ډول کیسې نه خوښوي او نیوکې پرې کوي .

په افغانستان کې نږدې له هر نوښت سره تل یو ډول مقابله موجوده وي. د نوي ازاد شعر په مقابل کې هم همداسې ضدیت موجود و. زموږ یو شمیر مشرانو شاعرانو به آن په ازاد شعر کله کله ملنډې هم وهلې، ځینو به ویل مقاله ولیکه ځای ځای یې په پنسیل بیرته پاک کړه چې غیر منظمې کرښې جوړې شي، دې ته وایي ازاد شعر. آن په وروستیو کلونو کې هم د ازاد شعر



عادت اوس هم په موږ کې تر یوه حده شته همدغسې د مقالې د لیکلو په برخه کې هم اوږدې اوږدې سریزې لیکو مطلب تر ډیره راڅخه پټ پاته شي. موږ په اوږدو خبرو عادت سوي یو. ځکه خو هم دادی د کابو نیمې پیړۍ په تیریدو سره مینیمال کیسه ایله بیله زموږ ژبې ته راغله. او دا زموږ د مبتکر لیکوال ګران عبدالله الهام جمالزي نوښت دی چې دادی د مینیمالستي کیسو یوه مستقله مجموعه یې د چاپ لپاره چمتو کړې ده. البته ویلی شو چې تر دې دمخه هم زموږ د ځینو لیکوالو په لیکنو کې مینیمالستي تمایلات تر سترګو شوي دي خو لا تر اوسه هم موږ د کیسه ګیو یوه ځانګړې ټولګه نه درلوده له نیکه مرغه دغه تشه ګران عبدالله الهام جمالزي ډکه کړه. زموږ د ځینو لیکوالو هر یوه ایمل پسرلي، نصیراحمد احمدي، اجمل پسرلي، شریفې شریف، بازمحمد عابد، ترنک، ډاکټر بازمحمد ښادمن په لنډو کیسو کې موږ له همداسې تمایلاتو سره مخ کیږو. د بازمحمد عابد د( ښاپیرۍ او دیو)کیسه د همداسې یوه تمایل نښه بللی شو چې دلته یې را اخلم:(شاعر په ګڼ بازار کې د روزګار چرتونو په مخه کړی و، چې نا څاپه یې تخیل غزونې وکړې، له زړه نه یې نرۍ څړیکه پورته شوه او څنګه چې یې په شونډو زمزمه شوه، نو د سرك په غاړه له ولاړو پولیسو نه پرې یوه غږ وکړ: ــ دې خوا راشه! دا کنځلې دې څنګه وکړې؟ ــ کنځلې خو مې نه دي کړي تاڼیدار صاحب. ــ چې کنځلې دې نه کولې، نو بیا دې د سودایانو په څیر له ځانه سره څه اوتې بوتې ویلې؟ ــ اوتې بوتې خو مې نه دي ویلي تاڼیدار صاحب. ــ اخر څه بکواس دې کولو، شابه ووایه که نه چمړه درنه وباسم. ــ هسې ما ویل ښاپیرۍ یو څه راوړي وو، خو د دیو بوږنوونکی غږ یې چې واوریده، نو په یوه ترپ کې یې پښې وایستي. ــ غلی شه، د خان بچیه. په ویښه خوبونه ګورې او هغه هم د دیوانو او ښاپیرو، چرسي خو به نه یې؟ ــ نه قربان. ــ دا قربان دې د چرسیانو دی، هلکو! دی بوځئ او په حوالات کې یې بند کړئ(.

په مقابل کې دا ډول ذهنیت موجود و. د مینیمال کیسو د منلو لپاره هم وخت او کار ته اړتیا ده. که زموږ لیکوال په معیار برابرې ښې کیسې ولیکي باور دی چې لوستونکي به د نوښتونو هرکلی کوي. د آزاد شعر په مقابل د لومړنیو دا ډول غبرگونونو یو لامل هم د ښو ازادو شعرونو نشتوالی بللی شو. اوس چې موږ ښه ازاد شعرونه لرو ټول یې خوښوي. د کیسه گیو په اړه هم دا خبره د پام وړ ده.

زموږ ځوان لیکوال الهام جمالزی پخپلو لومړنیو قدمونو کې تر ډېره بریالی دی. دده لومړنۍ کیسې د راتلونکو بریو هیلې له ځانه سره لري: ( دا خوش باوري بیخي مرض غوندې دی؛ یو وخت مې فکر کاوه چې ډېر ملگري لرم، خو وروسته پوه شوم چې دا ریښتیا ده چې یو وخت مې دوی ملگري وو، مگر اوس چې فکر پرې کوم گورم چې زه د دوی ملگری نه وم...)

جمالزي صاحب هڅه کړې پخپلو کیسه گیو کې د دا ډول کیسو ټول معیارونه په پام کې ونیسي:

(د جمعې ورځې د لمانځه وخت وو، په تش روغتون کې په عاجله برخه کې د یوه چپرکټ خواته ناست ځوان په چپرکټ کې پراته ځوان ته ځیر سترگې نیولې وې اوله گوتو یې په وارخطایۍ ټکونه ایستل، څه شېبه وروسته مړې مړې اوښکې پرې راتوی شوې او له چپرکټ یې غېږه تاو کړه...)

د ده په کیسو کې د کیسې لنډون، د مفهوم رسولو او د زمان او مکان محدودیت ته توجه شوې ده: ( اوس یې د کلا له دروازې څخه ښکارېدونکی له غونډۍ شاته سپین ډاگ چې هغې خوا ته پرې تلونکي خلک پناه کیږي بد ایشي ځکه مساپرۍ ته تللی خاوند یې له دې خوا ژوندی ترې پنا شو خو له هغې خوا یې چپرکټ د خلکو په اوږو بار پرې را واوښت...)

خو زه له دې نظر سره موافق نه یم چې وایي کیسه گۍ په منځ کې نقطه نلري، یعنې د یوې لنډې انځوریزې کیسې دوام دی او داسې ځای نه پکې



راځي چې د جملې د پای اړتیا پکې پیښه شي. زه وایم په دې ډول موږ په لوی لاس پخپل خیال بندیزونه لگوو، کیدای شي د بیان ساحه مو پراخه وي که موږ د منځ ټکي ته ځای ور نه کړو ځان به مو نور هم محدود کړی وي، اوس تمایل دادی چې بندیزونه لږ شي او خبره په ښه توگه په راحتي سره و رسول شي.

دا د جمالزي صاحب د مینیمالستي کیسو لومړنۍ ټولگه ده طبیعي ده چې لومړني گامونه ستونزې لري زه باور لرم که جمالزی صاحب همداسې خپل کار ته دوام ورکړي یو وخت به یې موږ د نورو سترو نوښتونو شاهدان واوسو. دده کار او زیار د ډېرې ستاینې وړ دی زه ورته د لازیاتو بریو هیله کوم.

په مینه په درنښت

علم گل سحر

کابل- ارگ

۱۳۹۲/ ۱۱/ ۲۱

دا لیکنه مې هغه مهال بیا خپره کړه چې په ټولنیزو شبکو کې مې د خپلو پخوانیو او تازه کیسه گیو د خپرولو لړۍ پیل کړه.

## میني مال که کیسه گۍ؟ ...

دا لیکنه ما پنځه کاله وړاندې کړې وه، هغه مهال چې ما د مینیمال بیلگې په پښتو ژبه ولیکلې او گڼو لیکوالانو، استادانو، مشرانو او ملگرو تشویق هم کړم، اوس یې یو ځل بیا خپروم او له استادانو، مشرانو او ملگرو په دې برخه کې نظر غواړم.
یوه ورځ مې له استاد رفیع نه پوښتنه وکړه ما ویل استاده دغه نوي فورم ته کیسه گۍ کلیمه کارولای شو (زه پوره مطمین نه یم چې ما استاد ته کیسۍ ښودلې وه او که کیسه گۍ؟) استاد ویل نه، ځکه کیسۍ (یا زما په اند چې کیسه گۍ) یو بل فورم دی چې معمولاً د پوښتنې بڼه لري، له هغې ورځې تر ننه پورې چې ما دا فورم څه لیکلي نو د مینیمال او کیسه گۍ دواړو کلیمې مې یې څنگ ته لیکلي دي. خو اوس چې دا څو موده بیا په ټولنیزو شبکو کې خپل مینیمالونه خپروم نو ډیرې لوستونکي د دغه فورم په اړه پوښتنه کوي. له همدې امله بیا غواړم دا موضوع د مشرانو او استادانو یاد ته ورولم تر څو په خپلو علمي لارښونو له ځوانو لیکوالانو سره مرسته وکړي چې په دې برخه کې ښه آثار وپنځوي.
دا فورم اوس په ټوله نړۍ کې ډېر زیات لوستونکي او مینه وال لري، زه خپله یې هم په دې خوښوم چې هر څه پکې په دقت په پام کې نیول شوي، وخت، پیغام، هنریت او هر هغه څه چې له یوه ادبي اثر نه یې تمه کیږي، ځکه به هم وده کوي.
لیکنه:



که څه هم تر دې دمه، د مینیمال یا زما په وینا د (کیسه گۍ) په اړه ډېر څه نه پوهېدم، خو د مطالعې پر مهال مې په انټرنېټ کې پرې ډېرې سترگې لگېدې او همدې موضوع یې په اړه پلټنې ته وهڅولم؛ که څه هم ما یې په اړه ښایي بشپړ معلومات هم نه وي راټول کړي خو هڅه مې وکړه چې تر یوې کچې د دې ډول کیسې په اړه معلومات راټول کړم.
مینیمال سبک له دوهمې نړیوالې جگړې وروسته د لیکوالو ذهنونو ته لاره موندلې. ددغه سبک لیکوال پرته له دې چې د کیسې گڼ تخنیکي اړخونه او محدودیتونه په پام کې ولري له نا اړینو توکو تېرېږي او خپله کیسه ساده او ډېره لنډه را اخلي. پدې کیسو کې چې کوم کرکټرونه شته ټول عادي وگړي دي او هیڅکله پکې لکه د پخوانیو کیسو په څېر شاهزادگان او پرښتې نه لیدل کیږي.
دغه ډول چې په لویدیځ کې په پنځوسمه لسیزه کې رامنځته شو تر اوسه زموږ ادبیاتو ورته هر اړخیز تعریف نه دی وړاندې کړی، خو له لغوي نظره د تر ټولو ساده طرحې یا بڼې کارول دي، دغه کلمه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۲۹ کال د (ډیوېډ برلیوک) په نوم یوکس له یو نندارتون څخه د کتنې پر مهال کارولې او په پنځوسمه لسیزه کې د یو ادبي غورځنگ په توگه وغځېده او په شپیتمه او اویایمه لسیزه کې یې هم دوام وکړ. ځینې لیکوال وایي میني مالیزم د پخواني اکسپرسیونیزم (: بهرنۍ نړۍ ته د هنرمند د ذهن د پټو عواطفو لېږد) پر ضد رامنځته شوی او په نقاشۍاو معمارۍ کې سادگي او په ځانگړو هندسي بڼو وړاندې کول ددغه سبک له ځانگړنو څخه وې.
منیمالیزم له هنر او ادب څخه هم پښه وړاندې اېښې مینیمالیزم په فلسفه کې باور لري چې د انسان د ژوند لپاره شمېرلې اړتیاوې بسنه کوي او هغه کسان چې د دا ډول تفکر پیروي کوي په ساده ډول ژوند کوي او ځان خوښ احساسوي. د فلسفې د دغه سبک مشران تل خپل پیروان هڅوي چې

له هغو ځیزونو ډډه وکړي چې زړه یې ورته کېږي او زده کړي چې په ساده گی او له مادیاتو پرته هم ژوند شونی دی.

خو ځینې لیکوال بیا وایي: مینیمال لیکنې د وېبلاگونو له رامنځته کېدو وړاندې په لیکني ادب کې ځای نه درلود او تر اوسه هم بشپړ او معیاري (سټنډرډ) تعریف نلري.

په مینیمال لیکنه کې تر ټولو مهم ځیز پیغام او هدف دی. لومړی باید معلومه شي چې لوستونکي ته څرنگه پیغام او موخه ولېږدول شي بل گام د پیغام د لېږد ځواک او پیاوړتیا ده. بیا دلیکوال په ذهن کې د کیسې د بیان ډول دی چې څرنگه جوړ او لېږد ته چمتو شي، وروسته د مطلب خلاصه کول دي تر څو پوره خلاصه شي او بیا لوستونکي ته وړاندې شي.

خو دا چې پیغام؛ یعنې د کیسې اډانه، لېږد، لنډې او ښکلې جملې او ښکلی او آموزشي پای له لوستونکي سره د دغه ډول کیسو د تړاو اصلي ستنې دي نو باید په ډېر مهارت وکارول شي.

ځینې لیکوال او کره کتونکي پوښتنه کوي چې آیا مینیمال یا زما په نظر همدا (کیسه گی) کولای شي د یو انسان دردونه، اندونه، خوښی او احساس ونغاړلی شي او یا هم یو چاته انځور او د کیسې په تول پوره ځیز ورکړای شي؟ په داسې حال کې چې مینیمال زیاتره یوه جمله درې جملې یا یو دوه پارگرافه وي.

ځینې ښایي ډېر ژر ځواب ووایي: نن ورځ لوستونکي دومره حوصله نلري، لیکوال باید خپل مطلب ووایي او ځي دې په خپل کار پسې.

خو ځینې لیکوالان بیا وایي چې څرنگه کېږي یو شخص په یوه جمله کې خلاصه شي، لکه په ټولو داستانونو او ناولونو کې. څرنگه یې ژوند، اند، جغرافیایي موقعیت او گڼ نور مسایل را ونغاړل شي او بیا ورته کیسه ووایو؟ یا هم د ناول لیکوالو او کیسه لیکوالو د داستانونو او آثارو پېچلي پیغامونه، او کمډیکې او تراژیدیکې منځ پانگې په دوه یا دریو جملو کې ونغاړې او



لوستونکی دې ترې خوند هم واخلي.

خو دا بحث په دې کوچنۍ مقاله کې نه ځایږي موږ چې د مینی مالیزم په ځانگړنو لنډه رڼا اچوو راځو بېرته خپله مینی مال سبک ته.

د طبیعت، هنر او هنر مند تر پوښتنې لاندې راوستل دمینی مالیزم کار دی او مین مالیستان باوري دي چې هنري کار حتمي نده د هغه د پنځونکي د احساساتو او څرگندونو استازیتوب وکړي. مینی مال چې په تېرو نږدې دوه لسیزو کې د تجسمي هنرونو له ټرېبیونه نه راښکته کېده، ارام آرام د ادبیاتو له زینې پورته شو او ځان ته یې ځانگړی ځای وموند.

ځینې وایي: مینی مال په ادبیاتو کې د لنډې جملې په معنا دی، دغه جمله باید خلاصه وي؛ هم پېچلې؛ هم فکر ته اړ ایستونکې؛ هم ښکلې او هم باید نقطه ونلري تر څو وښیي چې جمله پای ته نده رسېدلې او د لوستونکي ذهن د جملې د دوام جوړولو ته اړ شي. یعنې مخاطب باید خلاصه شوې برخه ومومي او اصلي پیغام را وباسي.

که یو لیکوال غواړي چې اثر یې د مینی مال په ځانگړنو برابر وي باید له غیر اړینو معلوماتو ډډه وکړي ساده کیسه ولیکي او لوستونکو ته اجازه ورکړي چې د کیسې یو شمېر برخې په خپله په خپل ذهن کې تصور کړي.

د کیسې کرکټرونه عادي وگړي دي او ژبه یې هم د کلي کوڅې ژبه ده او د خبرو لپاره هم له ساده او لنډو کلمو استفاده کوي او همدا سادگي یې په اغیزمن تابه کې هم مهم رول لري.

مینی مال لیکنه له لنډو جملو سره نږدې اړیکې لري خودا ددې معنی نه ورکوي چې یو مینی مال داستان حتما باید څو کرښې یا څو کلمې ولري. نو دې موضوعاتو ته په پام سره یوه لنډه کیسه هم مینی مال کیدای شي. یو شمېر لیکوالان بیا ټینگار کوي چې مینی مال باید له فلش فیکشن یا نورو ډولونو سره گډوډ نه شي مثلا ځینې وایي: یو شمېر لیکوالو د یو داستان لپاره چې ۵۵ کلمې ولري مینی مال ویلی؛ چې دا سمه نده او زه خپله بیا

فکر کوم چې دا په یو ډول د هماغه فلش فکشن په څیر فورمونو یو ډول دی.
زما په ذهن کې د کیسه گۍ لپاره یو شمیر ځانګړنې شته؛ چې د بېلګې په توګه یې درې دلته یادوم:
اول، په منځ کې نقطه نلري، یعنې د یوې لنډې انځوریزې کیسې دوام دی او داسې ځای نه پکې راځي چې د جملې د پای اړتیا پکې پیښه شي.
دوهم، په پای کې همیشه درې ټکي لري یعنې کیسه کاملاً دلته نه ده ختمه شوې، د کیسې اصل مطلب لوستونکي ته په داسې ډول ولیږدول شو چې لوستونکی هم په کیسه پوه شو او هم یې پیغام واخیست، شاید په دې پیښه کې نور بدلونونه هم راغلي وي چې لیکوال په دې ترتیب سره تر هغو تیریږي او په یو ډول لوستونکي له خپل فکر سره پر ځای پریږدي.
دریم، کیسه گۍ عالمانه ویناوې نه دي او نه هم شعارونه دي، کیسه گۍ د لنډې کیسې ډیره لنډه بڼه ده چې تر ډیره د ورځني ژوند کیسې نندارې ته ږدي په داسې ډول چې د لوستونکي له عواطفو سره اړیکه جوړه کړای شي؛ هر ډول او بې خونده یا شعاري او سیاسي موضوعات که په کیسه گۍ کې ولیکل شي کښښ یې له منځه ځي.
خو بیا هم وایم چې زه خپله هم له کیسه گۍ سره نوی یم؛ ښایي په پورته یادښتونو کې هم داسې ډیر څه وي چې هغه ډول چې بایده ده دغه فورم وپیژندلای شي نه به شي کولای.



(۱)

**فلسفي خبره:**

شیبه مخکې مې ورته کیسه کوله چې ډاکټر ویل د فکرخرابۍ اصلي دلیل دې څه دی؟ ما ویل په کور پسې مې زړه تنګ شوی، اوس یې راته ویل چې یوه فلسفي خبره خو راته وکړه ما ویل: یو وخت په قفس کې تنګ یو او یو وخت په قفس پسې...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ نولسمه، نویډا، ډهلي – هندوستان

(۲)

**قهرمان:**

قاضي یې د اعدام رسمي حکم ولوست، په محکمه کې چوپتیا خپره شوه، په متهم په خپل ځای کې د خلکو تر ځیر ځیر نظرونو لاندې ضعف ورغی او پښې یې وریږدېدلې، له ځان سره یې په یو څه ویروونکي انداز وویل: الله!... رېښتیا هم چې قهرمان نه یم!

(۳)

**زړه تنګي:**

تر څنګ مې روان وو، پورته یې آسمان ته وکتل، ویې ویل: یاره نن شین اسمان او ښکلې هوا! ډیر خوند نه کوي؟ ما ویل خوند یې درکړ؟ ویل: هو. ما ویل ما ته خو ډیر متفاوت نه ښکاري!. ویل یې ته لکه چې لا هم خپه یې!؟. ما ویل بس د شنه آسمان او ښکلې هوا خوند په دنني احساس پورې اړه لري، څوک د بدن په ویرانه کې له تپیدونکي زړه خبر دي چې دا دنیا څرنګه ویني؟!...

(۴)

**آشنا آسمان:**

نیمه شپه به وه، یواځې د سپیو غپا اوریدل کیده، د کور په بام ولاړ وم او وړاندې چوپو کورونو او په سړکونو د ولاړو څراغونو رڼاګانو ته مې کتل، فکر مې شو، هر څه بدل، ناآشنا او حتی ویروونکي وو، خو چې پورته مې وکتل هر څه آشنا وو ...

(۵)

**گرانښت:**

د دروازې له ټک ټک وروسته ور ننوتم، ما فکر کاوه چې لا به هم غوسه وي، له سترې مشي وروسته مې ورته وویل چې څه حال دې دی، ویل یې ښه یم، خو په تا پسې خپه وم. ما ویل ورک کړه هره ورځ به مو جنګ وو. ویل یې: چې لاړې په قدر دې پوه شوم...

(٦)

**احساسات:**

نصیحت یې کاوه خو نه یې وړاندې څه وویل نه وروسته په غریو نیولي غږ یې یواځې دومره وویل: تر سترګو پورې د اوښکو د را رسیدو او ستوني د پړسیدو د درد درک کول او حس کول څه آسانه خبره نه ده، پس د دغه وخت له احساساتو سره ډیر احتیاط کوئ که مو خپل وي که د بل...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ شلمه، نویډا، ډهلي – هندوستان



(٧)

**غاړه اېښودل:**

وایي یو چا غوښتل دخپلې سیمې د غره لوړه څوکه یواځې په خپله فتح کړي، د غره لور ته روان شو او څوکې ته یې ځان نږدې کړی وو خو تیاره شوې وه، ناڅاپه یې پښه وښوېده او ښکته وغورځېده. په کوم پړي کې چې ځان یې پرې تړلی وو ښکته ځوړند شو.

تیارې او یخې هوا په چیغو راوست او خدای ج ته یې په خطاب کې وویل:

خدایه! مرسته راسره وکړه

وایي چې غږ پرې وشو

سمه ده؛ خو چې څه درته وایم عمل پرې وکړه

هغه وویل: سمه ده

خوکله چې یې ورته وویل پړی پرې کړه، هغه پرې عمل ونه کړ او ځان یې په پړي پورې ونښلاوه

بالاخره یخنۍ وواژه...

کله چې خلک سیمې ته ورغلل، سړی په داسې حال کې مړ شوی وو چې په تناب کې ځوړند وو او له ځمکې سره یې یو متر واټن درلود.

ژباړه

(۸)

**تن فروشي:**

اې!

نجلۍ را وکتل، خو څومره لویه شوې وه؟!

- اوس قوطي نه خرڅوې؟

ویې موسل، رانږدې شوه، غومبوري او انګي یې سره وو، نور هم سره شول، چې ښه رانږدې شوه په یو بېل انداز یې وویل:

- نن غواړم ستا په قوطیو ټول ښار ته اور ورواچوم!

په غږ کې یې شهوت نغښتی وو، ټول بدن مې ولړزیده... حیران مې ورته وکتل، هغې دوام ورکړ: قوطي مې چا نه اخیستل... اوس کلونه کېږي ځان مې پلورم... اخلې یې!!!؟؟؟

ژباړه

(۹)

**د دنیا موټر:**

شنه یخ یې غوږونه سره اړولي وو، لاس یې ریږدېدل په سترګو کې مې خیره وو او په نرمه لهجه یې راته وویل: یوه خبره درته وکړم؟. ما ویل دوه خو وکړه. ویل یې دا دنیا لکه زوړ کړپن موټر دی، ګوره سړی خو به نه ګنهګارېږي چې ووایي: نور مې نه خوښیږي چې د دنیا په دې مصرفي موټر کې په دې کنډ او کپر لاره وړاندې لاړ شم، زړه مې غواړي په موټروان یې غږ وکړم چې ویې دروه! زه ښکته کیږم!...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ دوه ویشتمه، ډهلي – هندوستان



(۱۰)

**د ښځې یاد:**

په کوټه کې مخامخ آینې ته ناسته وه، اوږده تور ویښتان یې ږمنځول، یواځې یې هینداړې ته کتل. ډېره شېبه په سوچ کې ورته ناست وم، د کور د دروازې زنګ ووهل شو ور ووتلم، لور مې له مکتب نه راغلې وه، زه په خپل ځای کېناستم او آیینې ته خیره شوم، لور مې لاړه جامې یې بدلې کړې، بیرته راغله مخامخ راته ودریده، سوړ اسویلی یې وکړ او ویې ویل: تا ډوډۍ خوړلې؟ ما ویل نه. لاړه او یوه ګړۍ وروسته یې ډوډۍ راوړه، د ډوډۍ له ایښودو سره یې مخامخ هینداره په دستمال پټه کړه او ویې ویل: راځه نن به هدیرې ته ورشو، زما هم نن ټوله ورځ زړګی پسې وځوربېده!...

(۱۱)

**مور:**

ساه یې لنډه لنډه کېده، د روغتون په دې ګوښه کوټه کې په چپرکټ غځېدلې ښځې ته یې ځان ور ورساوه، د نرسې له لاسه یې د جوسو قوطی واخیست او په خپله یې د ښځې په نښتې خوله کې قطره قطره ور وڅڅول. نرسې لاس په سینه غوټه کړل او په غوسه ناکه لهجه یې وپوښتل: نو ولې؟ خو زه یې هم ورکولای شم. سړي ځواب ورکړ. هغې د بل چا له لاسه نه خوړل. نرسې ځواب ورکړ: اوس خو نه پوهیږي ته څوک یې... سړي سر وخوځاوه او ویې ویل: که هغه نه پوهیږي چې زه څوک یم، زه خو پوهیږم چې هغه څوک ده!...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ درویشتمه ، ډهلي – هندوستان

(۱۲)

**اراده:**

ویل یې له دا یوه کال راهیسې مې ورځني یادښتونه نیول، اوس چې کله د تیر کال د کتابچې یادښتونه لولم له ځان سره قسم خورم چې دا ځل به هغه ډول چانسونه له لاسه نه باسم. ما یې سترګو ته وکتل او پوښتنه مې ترې وکړه چې د نن ورځې لیکنه دې چمتو کړې، تندي ته یې ټک ورکړ ویل یې نه، خو لا هم وخت شته لږ صبر راته وکړه...

(۱۳)

**خیر:**

ماشوم خپل پلار د کور په دروازه له ننوتلو سره سم ودراوه، پلار هم خپل د کار بکس خوا ته کیښود او ځوی یې په غیږ کې واخیست. ځوی پوښتنه وکړه: پلاره ستا یو ساعت تنخوا څو کیږي؟ پلار بیرته ځوی په ځمکه خوشې کړ او ویې ویل: ولې بیا دې څه شي ته زړه شوی؟ زوی بیا پوښتنه وکړه: څو کیږي؟. پلار ځواب ورکړ: سل افغانۍ. ځوی یې په سوچ کې شو او د لاس په کوچنیو ګوتو یې حساب وکړ او پلار ته یې وکتل او ویې ویل: سبا یو ساعت ناوخته راشه زه به د صابر نیکه ته لس تودې ډوډۍ واخلم...



(۱۴)

**ستونزې:**

نن مې غوښتل په خپله پخلی وکړم، ملګری مې راغی راته ودریده او سوړ اسوېلی یې وایست او ویې ویل: یاره نور نو له دغه ژونده ستړی یم، له کار، پوهنتون او ملګرو ټولو نه... ما ویل کیک دې خوښیږي؟ ویل: هو. ما ویل دا غوړي دې خوښیږي چې ویې څښې؟ ویل نه، ما ویل دا هګۍ دې خوښیږي چې ویې څښې؟ ویل: نه، ما ویل دا اوړه څرنګه؟ ویل: نه... له دې سره یې وخندل او ویې ویل غواړې ووایې چې زما ستونزې هم په تنها تنها بد خونده دي خو که په لاره برابرې شي کیک به شي؟ زه یې نه منم...

(۱۵)

**حرص:**

د یوه لویدیځوال لیکوال داستان مې لوست، یو ځای له یوه کرکټر نه پوښتل شوي چې یوه هیله وکړه چې درته پوره یې کړم، هغه هیله کړې چې دوه نورې هیلې یې ومنل شي، بیا یې په دې دریو هیلو درې نورې هیلې کړې...

(۱٦)

**تنهایي:**

ویل یې ټوله ورځ په کور کې یواځې وم او په دې لیرې ملک کې مې په خپله مساپرۍ او سخت ژوند فکر کاوه او وطن مې په سترګو کې ګرځیده، خو چې د ښونځي د رخصت کېدو وخت شو زړه مې ښه شو، پورته شوم خوندور وطني خواړه مې جوړ کړل، خو لږ وړاندې له ښونځي راغلي وو، اوس ټول ویده دي وایي ته یې یواځې وخوره...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ څلور ویشتمه ، ډهلي – هندوستان

(۱۷)

**د مور درواغ:**

یو چا د مور په درواغو فکر کړی او ځینې یې چې په یاد ورغلي داسې یې لیکلي: زویه وخوره زه وږې نه یم... زویه دا ټوټه مې تا ته ساتلې زما کله ورسره جوړه ده... زویه دا وځښه زه تږې نه یم... نه زویه ستړې نه یم... زویه خپل شته دې وساته، زه لا هم یو څه لرم... زویه زما کله آرام خوښیږي... نه زویه درد نه احساسوم...

(۱۸)

**پلار:**

یوه نوي زوم او ناوې پریکړه وکړه چې هیڅا ته به دروازه نه پرانیزي، د زوم مور او پلار راغلل او له هر څه ډېولو سره سره یې دروازه پر مخ خلاصه نشوه بیرته لاړل، کلونه وروسته یو سړی د خپل زوی د کور د دروازې شاته په ریږدیدلو پښو ولاړ وو او په دستمال یې سترګې وچولې...

(ژباړه او لنډون)

(۱۹)

**خوبونه او کلی:**

څو وخت کېږي چې د خوبونو په یوه خوندور راز پوهېدلی یم، هغه ختېنې کوټې چې په ویښه یې لا په یاد نشم راوړلای په خوب کې هره پیښه په هماغو کې وینم...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ پنځه ویشتمه ، ډهلي – هندوستان



(۲۰)

**بې دلیلي:**

ځینې وخت نشم کولای چې څه تشریح کړم چې ولې مې یو څه خوښیږي؛ کله به چې چا رانه پوښتنه کوله چې د ښونځي ټول زده کوونکي په ښکته لاره ځي او ته په بره لاره ځې دا ولې؟ دلیل مې نه درلود یواځې به مې ویل: خوښیږي مې بس...

(۲۱)

**د ښونځي تصویر:**

کله چې په ذهن کې د ښونځي انځور جوړوم په توره تخته د سولیدلي تباشیر سپین ګردونه، په ټولګي کې ګوډې او ماتې څوکۍ او د لیسې ټیټ سولیدلي دیوالونه انځورولای شم خو چې ډېر خوند ترې اخلم هغه وخت دی چې په باران کې یې انځور کړم...

(۲۲)

**تیریدونکی وخت:**

له پخواني همصنفي سره مې خبرې کولې هغه د فوټبال په ورځ د ګټلې مسابقې په شیرینۍ کې یې د اخیستل شوو کولچو داستان راته بیاناوه، خو په زړه پورې دا وه چې د ټولګیوالو هغه نومونه یې اخیستل چې موږ پرې ایښي وو د هغوی اوسنۍ قوارې او وظیفې همدومره لیرې وې لکه زما او زما ذهن...

(۲۳)

**خاطرې:**

د ښو او بدو خاطرو د ویلو بحث وو، یو ملګری مې په سوچ کې ناست وو، سر يې وخوځاوه او ويې ویل یاره دا ستا د بایسکل تر خاطرې ما ته هم یوه خوږه خاطره رایاده شوه چې په بایسکل هان تر غزني ښاره لاړم، کاش اوس هم هماغه عمر وای او په هماغه بایسکل سپور وای...

(۲۴)

**خپل وطن:**

د ټولن پيژندنې استادې په ډېر او لږ نفوس بحث کاوه، ما په خپل د مطالعې په کتاب کې د افغانستان نقشې ته کتل، ذهن مې کابل ته لاړ، کله به چې په بازار او کوڅو کې ګرځېدم په دې به مې فکر کاوه چې د هیواد د نفوس څو فیصده خلک به زه پيژنم، هلته به دا فیصدي ټیټه راته برېښیده خو اوس په دې باور یم چې دا نهه نوي فیصده ټول پيژنم...

(۲۵)

**پلار:**

له پلار سره مې چې له دې ځای نه په ټلفون خبرې کوم، په ژبه یواځې سترې مشي سره وکړو، نور نو داسې تفاهم راسره شروع کړي چې نه په خوله خبرې او سوال او ځواب په کې وي او نه د سترګو او بدن حرکات خو رازونه ټول ورته وواېم او هغه هم دعا راته وکړي، په داسې حال کې چې نه دلته څوک پوه شوي وي يا يې خبره اورېدلې وي، نه هلته چا د پلار خبرې اورېدلې وي، پرته له مورږ دواړو...



(۲٦)

**یتیمه:**

نکاح ناآشنا ملا تړله، پوښتنه يې وکړه د ناوې وکیل خو يې پلار دی؟ د نجلۍ نیکه په لړزیدلو ګوتو د چوپ اشاره ورته وکړه او تر سترګو يې اوښکې وڅڅیدې...

(۲۷)

**خوش باوري:**

یو وخت مې فکر کاوه چې ډېر ملګري لرم، خو وروسته پوه شوم چې دا رېښتیا ده چې یو وخت مې دوی ملګري وو، مګر اوس چې فکر پرې کوم زه د دوی ملګری نه وم...

(۲۸)

**د سختیو مقابله:**

پلار زوی ته وویل ته يې راته ولیکه چې له ذهن نه مې ونه وځي؛ اوره، غوړي، بخارۍ، لرګي، چای، بوره... څه شېبه وروسته چوپتیا خپره شوه، زوی خپله د رسمونو کتابچه کتله او پلار په سوچ کې ډوب وو، زوی پوښتنه وکړه: ابا! په هغو حیواناتو کې چې تا لیدلي کوم دې ډېر خوښیږي؟ پلار په آرامه ځواب ورکړ: کیشپ...

(۲۹)

**درد:**

د شپې ناوخته د ګاونډي له کور نه چې همیشه دلته یواځې اوسیده، آواز راته چې په غوسه ناک غږ یې ویل:  چوپ ته نشې کولای چې زما اوښکې وبهوې، زه وویریدم ورمنډه مې کړه له هغې کړکۍ چې وخت ناوخت به مې ورسره خبرې کولې ور وکتل، هغه د پخلي پر مهال دوه غبرګې ګوتې په چاړه پرې کړې وې مخامخ یې ورته کتل او ویل یې: چوپ تاسې مې اوښکې نشئ بهولای...

(۳۰)

**لیکوالي:**

په کومه ورځ چې یو څه ولیکم، چې ویده کیږم داسې احساس کوم لکه یواځې همدا ورځ مې چې بې ځایه نه وي مصرف شوې او یو څه مې پکې کړي وي...

(۳۱)

**سکوت:**

نه پوهېږم چې د چا خبره ده وایي: ډیر وخت په خبرو پښیمانه شوی یم او په سکوت نه، ما هم د ځان جوړونې په لومړنیو هڅو کې تر دا اوسه دا زده کول چې سکوت زده کړم، نه خبرې...



(۳۲)

**د دعا برکت:**

ویل یې نن مې نږدې وو چې ګناه کړې وه، خو سخت خجالت له هغه ځایه بیرته راغلم، ده خندل خو ما ته یې له لمانځه وروسته هغه دعا را یاد شوه چې یو څه په لوړ غږ به یې د اسوېلي په انداز وویل: خدای ته مې په خپل امان کې وساته...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ شپږ ویشتمه ، ډهلي – هندوستان

(۳۳)

**مړ ورور:**

د جمعې ورځې د لمانځه وخت وو، په تش روغتون کې په عاجله برخه کې د یوه چپرکټ خوا ته ناست ځوان په چپرکټ کې پراته ځوان ته ځیر سترګې نیولې وې او له ګوتو یې په وارخطایۍ ټکونه ایستل، څه شیبه وروسته مړې مړې اوښکې پرې راتوی شوې او له چپرکټ یې غیږه تاو کړه...

(۳۴)

**چورتونه:**

ورته غوسه وم ما ویل اندېښمن ډیر یې خو د کار دې پته نشته، راته ویل یې چې په دې ښه پوهېږم چې په چرت خرابۍ یو کار نه سمیږي خو زه بیا هم ډیر چرت ورسره لرم، په داسې حال کې چې پوهیږم مګر بیا هم دا خبره په عمل کې نشم پیاده کولای...

(۳۵)

**فساد:**

د محکمې د ودانۍ په ښیښه اي دروازه کې ولاړ خیرن کس راباندې د درېدو غږ وکړ او په آمرانه لهجه یې را ته وویل: که سند مند وي په دوهمه طبقه کې ښي لاس ته ورشه، که د کوم بندي مندي دوسیه وي په ما پسې راځه...

(۳٦)

**یتیم:**

هره ورځ یې له مور نه پوښتنه کوله چې د خور د واده لپاره یې څومره پیسې په کار دي. څکه مور یې ورته ویلي وو چې د پلار له شهادت وروسته دې د کور سرپرست ته یې...

(۳۷)

**کمبود:**

هۍ هۍ ! هلته به اوس څه ښې خوشحالۍ روانې وي او زه پکې نه یم!...

(۳۸)

**نهیلي:**

اوس یې د کلا له دروازې څخه ښکارېدونکی له غونډۍ شاته سپین ډاګ چې هغې خوا ته پرې تلونکي خلک پناه کېږي بد ایشي څکه مساپرۍ ته تللی خاوند یې له دې خوا ژوندی ترې پنا شو خو له هغې خوا یې چپرکټ د خلکو په اوږو بار پرې را واوښت...



(۳۹)

**ځانمرګی:**

د ځانمرګي خبر یې د موټر په راډیو کې اورېدلی وو، خو پاک یې له یاده وتلي وو چې نن یې ورور په خیرخانه کې د سترګو ډاکټر ته ورغلی وو...

(۴۰)

**په واده کې ځانمرګی:**

د ناوې شین شال په ګردونو پټ مخ باندې وښویېده، سترګې یې وغړولې چوپتیا وه، غوږونو یې څه نه اورېدل، د موټر د ماتې شیشې دروازه یې په سختۍ پرانستله، وارخطا یې شاوخوا وکتل او وړاندې د زوم په پرې شوي سر او ځان له خپل مات شوي لاس سره پر مخې ور وغورځیده...

(۴۱)

**ابدي مساپر:**

ویل یې څم که خدای کول ډک لاس به راوګرځم، لاړ بیرته هیڅ رانغی...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ اووه ویشتمه، ډهلي – هندوستان

(۴۲)

**تکرار:**

له پلاستیکي پښې سره یې ایله اوس عادت کړی وو خو لا به یې هم ویل چې د پښې هډوکی مې پکې سولیږي او درد کوي، خو د هغې ورځې چاودنې یې دا درد هم په کرار کړ...

(۴۳)

**تقدیر:**

ویل یې که دې دا ځل بیا هم لور وشوه نو شله به دې کړم، خدای زوی ورکړ خو شل...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ اته ویشتمه، ډهلي – هندوستان

(۴۴)

**تقدیر:**

درد یې یو په دوه شو، ځان ته یې اور اچولی وو خو ژوندۍ پاتې شوه...

(۴۵)

**نهیلي:**

پلار ته یې په نازکو ګوتو اوږد لیک ولیکه، خو په پای کې یې ور ولیکل: کاش چې له هغې دنیا یې هم ځواب را استول کیدای شوای...

(۴٦)

**نهیلي:**

ویل یې ښه شو له دا یوه غمه خو خلاص شوم، خو له لږ سوچ وروسته یې بیا سوړ اسویلی وکړ...

(۴۷)

**شهید:**

چې کابل ته به راته سپین کالي به یې اغوستل، تک سپین لکه کفن...



(۴۸)

**غم:**

په تیر عمر کې ځوان مالومیده، خلکو به ورته ویل تا هیڅ شی له پښو نشي غورځولای، خو د ځوان زوی غم له پښو وغورځاوه...

(۴۹)

**غیرت:**

په ولچکو تړلي لاسونه یې پورته کړل له لنډ اسویلي سره یې وویل: قاضي صاحب هغه ښه پوهیده چې زما د غیرت په ازمویلو له خپل ژوند سره لوبې کوي او دا لوبه یې وکړه...

(۵۰)

**رشوت:**

مدیر صاحب په مخامخ څوکۍ کې ناست کس ته په لوړ غږ او غوسه ناکه لهجه وویل: وروره ستا د شیرنۍ پیسې خو ټولې خوړلای نشم، که مې څارنوالي ونیسي نو ستا پلار به مې خوشې کوي؟...

(۵۱)

**هیلې:**

یو عمر له داسې هیلو سره ژوند کوم چې ورته پام مې نه وي پرې پایم چې ورته پام مې شي ځان پرې بې ارزښته راته ښکاري او چې نه یې لرم لکه د سبا پر ځای چې همدا نن تش لاسونه له دې ځایه کډه په شا یم...

(۵۲)

**سوء تفاهم:**

په ټینګار سره یې ویل چې زه تل له سوء تفاهم نه ویریږم، مخامخ کس سر وخوځاوه او په موسکنده لهجه یې ورغبرګه کړه، بیا هم سم پوه نشوې...

(۵۳)

**لیدل:**

له کړکۍ یې بهر د دروازې په لور وکتل او له لاسونو پریوتلې شیشه یي کاسه یې په غولي ټوټې ټوټې شوه...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ نهه ویشتمه، ډهلي – هندوستان

(۵۴)

**طنزیه:**

غاړه یې تازه کړه خو د وینا له پیل وړاندې یې سکرتر په غوږ کې څه وویل وزیر ګوښې ته شو او د پتلون ځنځیر یې وتاړه...

(۵۵)

**وارخطایي:**

مبایل وشرنګیده او زړه یې په سینه کې په ټوپونو شو، شونډې یې سپینې شوې او په خوله کې ناړې وچې شوې، ګوتې یې ریږدیدلې، وارخطا وو چې څه به اوري...



(۵٦)

**انټرنټ:**

انټرنټ پرې شو او په آرام ذهن لاړ ډوډۍ یې وخوړه ...

(۵۷)

**د یوه ویر یاد:**

په نقشه کې یې د کابل – هرات په لویه لاره په ډوبو سوچونو کې ګوته راښکله، څه شیبه وروسته یې شونډې ورپیدې او له سترګو یې اوښکې راغلې...

(۵۸)

**قناعت:**

د ویالې په رڼو اوبو کې خپلو سپینو وروځو او ګونځې ګونځې څیرې ته موسک شو، د چادر په پیڅکه کې تړلې وچه ډوډۍ یې له اوبو سره کپ کپ وخوړه او آرام ویده شو...

(۵۹)

**تفاوت:**

د بانک په مخ کې په مرمرین پیاده رو یې تر پښه لاندې خرپ شو، ښکته یې وکتل سړي لاس تپاوه او د ماتو عینکو ټوټې یې راټولولې...

(٦٠)

**نوی ځیز:**

غوښتل یې نوی ځیز ومومي ډیر یې وموندل خو بیا یې هم نوی ځیز نه درلود...

(٦١)

**ټکر:**

په پلاستیکي بوټونو کې د باران د اوبو او پښو د چړپ چړپ منظم غږ د موټر د توند بریک په ویروونکي غږ پای ته ورسید...

(٦٢)

**لوړ غږ:**

دا غږ هومره لوړ وو چې نور یې نه اوریده...

(٦٣)

**ژوند:**

ویل یې په لویدیځ کې له زیږیدو تر مرگ ورځې هسې ژوند راباندې تیر شي لکه هره ورځ چې بیرته ترې روان یو خو تر آخره لاړ نشو...

(٦٤)

**ریا:**

له زړه زړه یې په تلفون کې خندل خو چې ځړنگه یې ټلیفون قطع کړ شونډه یې په غاښ کې ونیوله، په ژور سوچ کې لاړ او شیبه وروسته یې تر شونډو لاندې وویل: ته وگوره داسې هر څوک رییسان شول...



(٦٥)

**تنهایي:**

د ساعت تق تق د شپې په زړه کې په آرامه کوټه کې سکوت په ټوټو ویشه، سرې سترگې به یې کله پټې کړې او سوچ به یووړ او کله به یې لوڅې کړې او مخامخ دیوال ته به ځیر شو، له یوې اوږدې ساه اخیستو وروسته یې بلانښت ځان ته نږدې کړ او سترگې یې ټینگې پټې ونیوې...

(٦٦)

**یاد:**

موبایل ته یې وکتل د شپې دوه نیمې بجې وې، تلفون یې بیرته کیښود او په سوچ وړي انداز یې تر شونډو لاندې وویل: الله دې مل شه...

(٦٧)

**یواځې پاتې شوی:**

له هغه برید وروسته اوس د کور یواځینی غړی دی...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ دیرشمه، ډهلي – هندوستان

(٦٨)

**ستا یاد:**

کله کله مې په تا پسې هومره زړه تنگ شي چې خپل ځان مې یادیږي او سم ورپسې خپه یم...

(٦٩)

**لېوني:**

ګولۍ یې خولې ته واچوله او له پلاستیکي پیالې یې د اوبو غوړپ پسې وکړ، مخامخ ولاړ نرس ته یې چې په سوچ کې ورته ولاړ وو وویل: کیسه همدلته خرابه ده چې زه رییس جمهور نه یم...

(۷۰)

**مهرباني:**

له اوږدې ټوخلې وروسته یې سترګې پرانستلې، د خپلې لور اندېښمنو سترګو ته یې وکتل او په دمه دمه یې وویل: کاش چې د دنیا وروستی ناروغ زه وای...

(۷۱)

**وخت:**

ویل یې وخت سره زر دی خو نه د خدای پامانۍ وخت...

(۷۲)

**نسخه:**

د درملتون په مخ کې نسخې ته ځیر وو او تر څنګ ولاړې میرمنې ته یې وویل: دا هم لکه زما د زړه خبرې هسې دي، هر څوک یې نشي لوستلای...

(۷۳)

**وجدان:**

له دې نورو غمونو سره خو به یو څه وشي، خو دا په سر باندې شته غم به سړی چیرته یوسي...



(۷۴)

**د پېښې څښتن:**

د غړونو ګڼې ګوڼې او ځای ځای خندا او له یوې او بلې خوا په ټیټ او لوړ آواز خبرو د کوټې فضا ډکه کړې وه، خو د هغه په رانټوتلو ټول چوپ شول او د سترګو تر کونجو یې یو او بل ته په زړه سوځوونکي انداز وکتل...

(۷۵)

**یاد:**

له جیبه یې دستمال را وایست پزې ته یې نږدې کړ او اوږد نفس یې تر کش کړ او بیرته یې په جیب کې له اېښودلو سره تر شونډو لاندې وویل: لا هم ستا بوی پکې دی...

(۷٦)

**راز:**

ځینې خلک کله ناکله هومره لیوني شي چې حتی نوو دوستانو ته هم د زړه حال ووایي...

(۷۷)

**درد:**

له هغې ورځې راهیسې هغه کړکۍ بنده ده او پردې یې نه دي بیرته شوې...

(۷۸)

**زړه تنګي:**

له کور نه په ګچ شوي پښه له ټککونو سره په آرام آرام راوواته سترګو ته یې لاس ونیو او پورته لمر ته یې وکتل تر شونډو لاندې یې وویل: ډېره موده مې دغو خړونو دیوالونو ته په پخواني نظر نه دي کتلي...

(۷۹)

**انځورګر:**

په ډوب سوچ کې یې انځور په ډېره آرامۍ وکیښ، ترې شاته شو، څه شیبه یې ژور ژور ورته وکتل، بیرته ور وړاندې شو او د مخ ګونځې یې ور تازه کړې...

(۸۰)

**غمونه:**

ښونکي یې نوم واخیست خو هغه په سولېدلي میز په یوه نقطه کې سترګې ګنډلې وې، ځینو وخندل او ځینې چوپ شول او د همیش په څېر یې ځیر ځیر ورته وکتل...

(۸۱)

**مینه:**

له اوږده سوچ وروسته یې د کمپیوټر په ډسکټاپ خندان تصویر په رژیدلو پاڼو د ډک باغ په تصویر بدل کړ او انټرنټ اکسپلورر یې پرانست...

د ۲۰۱۴ د جنورۍ یودیرشمه، ډهلي – هندوستان



(۸۲)

**عزم:**

د باښې بچی چې د چرګانو په فارم کې له هګۍ وتلی او ستر شوی وو، هیڅکله یې الوت تجربه نکړ ځکه فکر یې کاوه چې چرګ دی...

ژباړه او لنډون

(۸۳)

**لیکوالي:**

ویل یې ولې مې څوک په طنزونو نه پوهېږي، ما ویل بختوره! زموږ په جدي خبرو لا نه پوهیږي څه وار مو د ټوکو شو...

(۸۴)

**لوچکي:**

زاړه سړي په موسکنده لهجه مخامخ ولاړ هلک ته چې په سټایلونو جوړې کړې ږیرې او پورته پورته درول شوو ویښتانو یې نظر جلباوه وویل: زه نه وایم چې ته بد سړی یې خو څوک چې له تاسره علاقه کوي حتمن خراب دی...

(۸۵)

**اوښکې:**

که دوه ځله د یوه هدف لپاره د اوښکو تویول د وخت له لاسه ورکول وي؛ خو بیا هم د یوه مړي لپاره درې ورځې سر په سر ژړا یو ځل کیږي...

(۸٦)

**لیاقت:**

د ځینو لپاره سړی اړ شي په داسې ځواب فکر وکړي چې لکه لوټه په اوبو کې ورک شي، خو ځینې په هغه هم نه ارزي...

(۸۷)

**هیلې:**

په نازکو ګوتو یې خپل کور او د کور پلو یو روان موټر رسم کړ، خو دوه ځیزونه یې نشو رسمولای، مور ته نوې جامې او په موټر کې را ستنیدونکی پلار...

(۸۸)

**ځوانیمرګ زوی:**

په لیک کې یې لیکلي وو: پلاره! چې دوه میاشتې وروسته درځم نو له تا سره به یو چکر وطن ته هم لاړ شم... د پلار له سترګو یې اوښکه راغله او تر شونډو لاندې یې وویل: ته رانغلې وطن هم وران دی...

(۸۹)

**ټام او جري:**

ټام کرکۍ پرانیزي او په داسې حال کې چې له دود ډکې هوا له امله وټوخیږي مخامخ آپارتمان ته وګوري، چیرته چې جري خپل ځان ته د پشۍ له موسکا او مهربانۍ ډک انځور کاږي، ټام دې مهربانۍ ته سر وخوځوي او له سترګو یې اوښکې راشي...



(۹۰)

**مرسته:**

بیزو (شادي) د ګڼو خلکو په منځ کې هغې او دغې خوا ته په ورته اچول کیدونکو ځیزونو پسې ځغاستله او خلکو ورته خندل، وړاندې یوه سپین ږیري ړانده کس څو ځله د لږ اوبه خو راکړئ نارې وکړې خو چا پام ورته ونکړ او د اوبو نل یې په لاس تیولو وموندی خو شیر یې نشو پرانستلی، چې ناڅاپه چوپتیا شوه، ړوند کس وویریده خو څه شیبه وروسته یې د اوبو شرشر د غږ په اوریدو زړه ښه شو او ویې ویل خیرخواه انسانه! خیر یوسې!، بیزو پرته له دې چې ورته ووایي هیله کوم د خلکو منځ ته ورټوپ کړل تر څو خلک وخندوي.

ژباړه او لنډون

(۹۱)

**مرګ:**

(خدای دې یې وبښي...کلیوالو قبر کینده، هغه چې له قبر نه راپورته کیده نو د قبر په څنډه کیناست او تنګ قبر ته یې وکتل او سر یې وښوراوه) هغه دا جمله په ژړاند انداز وویله او په قبر کې په پراته مړي یې لومړنۍ بیلچه خاورې ور واړولې...

(۹۲)

**پلار:**

په ګڼه ګوڼه کې يې د پلار لاس نيولی او شاوخوا دکانونو او خلکو ته يې په مزه مزه کتل، دکانونه ښکلي او شاوخوا خوا کاکاګان او خاله ګانې تيريدې، ناڅاپه يې د پلار لاس ورک شو او شاوخوا يې وکتل، له دکانونو او خلکو وويريده، ټول بد ښکاريدل او ويې ژړل ناڅاپه يې لاس په لاس کې ونيول شو پورته يې ورته وکتل، پلار وو، شککککککککر! د پلار لاس يې لا ټينګ کړ!

(د يوه بهرني ليکوال له ليکنې په الهام اخيستو سره)

(۹۳)

**طبیعت:**

ژمی په سر ولاړ دی، هوا ونې غلطې کړې ګل يې وکړ...

طرحه د نذير احمد نذير

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ لومړی، ډهلي – هندوستان

(۹۴)

**بیروبار:**

د کوټه سنګي پله ته نږدې په داسې حال کې چې د ماسپښین لمر هم ورته مخامخ وو او خولې يې په مخ را روانې وې په موټر کې راډيو ته غوږ وو چې د نوي ژوند او د نړۍ د بیروبار ښارونو په اړه يې مطلب لوست...



(۹۵)

**آشنايي:**

هيڅکله يې سمندر نه وو ليدلی، لومړی ځل يې چې ولید تر شونډو لاندې يې وويل لکه زموږ د ولايت دښته هسې دی هماغه راز غږ او هماغه راز څپې...

(۹٦)

**کاندید:**

د انتخاباتي کمپاين په ټولو غونډو کې يې د روښانه راتلونکي لپاره د غوره پروګرامونو او حتمي بريا خبرې کولې خو کله کله به شکمن شو چې داسې وخت رانشي چې پښېمانه اوسي...

(۹٥)

**بې وزلي:**

ښونځی يې له کلي ډير ليرې وو، له ټولو به يې وختي ښونځي ته ځان رساوه تر څو له ټولو اول ورسيږي او هيڅوک يې ونه ويني؛ کله به چې ښونځي ته ورسيد بوټونه به يې په پښو کړل...

نوټ: البته ټوله طرحه زما خپله نه ده

(۹٦)

له ځان سره سوچ يوور؛ د خپلې ميرمنې ويجاړه خوله چې په ژړا خلاصه وه او په مخ را تويېدونکې اوښکې يې په ذهن کې ور وګرځيدې، غلی وو، د هغې ښيراوې او شکنځلې چې ده ته يې کولې سر يې وښوراوه خو چې په لاس کې يې خپل لرګی په ياد ورغی ژر يې سترګې لوڅې کړې او سوچ يې په بله خوا کړ...

(۹۷)

**تحفه**

- سلام کاکا جان! نارینه جرابې لرئ؟
- بلې لور مې جار شم، یوه جوړه غواړې؟
- نه! یوه د ښځې پښې لپاره ...

ژباړه

(۹۸)

**یتیمه:**

- لور:مورجانې دا ولې دې لالا تر قران شریف لاندې تیر کړ؟
- مور: لورې د دې لپاره چې په خیر سره بېرته یې خدای سلامت راوګرځوي
- لور: نو ابا دې تر قران شریف لاندې نه وو تیر کړی؟...

(۹۹)

**یتیمه:**

خاله! پلار مې چیرته دی؟
په جنت کې دی لورې!
چې زه شهیده شم خوا ته یې ورتللای شم؟...

(۱۰۰)

**وجدان:**

له ځان سره یې ځان ته قناعت ورکاوه چې دا ګناه نه ده، خو یوه پټ حس یې په وجود کې دننه پرې غبږ کړ: هر چا ته د خره ګمان مه کوه، ګناه وه...



(۱۰۱)

**اوسنۍ هیله:**

هیلې او پلانونه پرېږده؛ اوس مې یواځینۍ هیله دا ده چې خدای مې صحي سلامت تر خپل کور پورې ورسوي خو پلان نشم ورته جوړولای...

(۱۰۲)

**نهیلي:**

د پلار کور ته یې د خسرګنۍ دردونه راوړې وو؛ اوښکې پرې راتویېدې او د خوابښې، خسر او خاوند له خوا یې د وهل کیدو کیسې په ټول درد سره بیانولې، چې ښه یې زړه تش کړ لور یې په حیرانۍ ترې وپوښتل: ادې! انا خو کڼه ده نه اوري بل نو څوک کله شته چې ته لګیا یې؟...

(۱۰۳)

**منافق:**

خپله یې هم ځان سره فکر کاوه چې کله په لمانځه دریږي نو دا پرښتې به یې په عمل نامه کې څه لیکي، چې دا لمونځ یې د ریښتیا وو او که د دروغو؟...

(۱۰۴)

**ډار:**

غوښتل یې د طالبانو په اړه کیسه ولیکي وویریده خو څه شېبه وروسته یې سوچ په بله خوا کړ...

(۱۰۵)

**رواج:**

دعا ته په راغلو ښځو کې یوه بلې ته ور په غوږ شوه او ویې ویل؛ بېچاره ډېره په ځوانۍ کې پاتې شوه، ښځې ځواب ورکړ: هو خدای پاک دې سړی له داسې درده ساتي او بیا به دا بیچاره له هغه لیوره سره څه کوي؟...

(۱۰٦)

**تقدیر:**

ویل یې لا هم د پرواز وخت شته یو ساعت چې وړاندې هوایي میدان ته ورسیږو هم کفایت کوي، راځه که ګاز نشته په دې برق به منقل ولګوو، منقل یې هم برابر کړی وو خو د برق له وصلولو سره یې دواړه نیولي وو، خدای دې وبښي...

(۱۰۷)

**ورک ورور:**

په دښته کې په سپیرو خاورو کې کېناست، د فاتحې دعا لوستل یې پیل کړل، ملګري یې هم ودرېدل او په حیرانۍ او خندا کې یې وویل: یاره دا څه کوې راځه پاڅه چې ځان ورسوو؛ هغه د دعا په منځ کې وویل: د ورور قبر مې چې تر اوسه پیدا نشو دا یې هم زیارت کیدای شي...

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ لومړۍ، ډهلي – هندوستان



(۱۰۸)

**شیطان:**

حتی په روژه کې به یې هم ښه ستره ګناه وکړه او بیا به یې شیطان لعنت ووایه، خو دا ځل یې ملګري ورته وویل وروره شیطان په ځنځیرو کې بند دی؛ ناحق ځان شریف مه کوه، دومره مردارخورګی چې ته کوې او پړه یې په شیطان اچوې هان له شیطان نه باید ښښنه وغواړې...

(۱۰۹)

**هیله:**

مخ یې د اسمان په لور کړ ویې ویل: بیا هم باران را و اوروه! د بوډۍ ټال نه غواړم...

(۱۱۰)

**غل:**

مور یې ټوله شپه ورته انتظار وه، خو زوی یې رانغی، غل وو...

(۱۱۱)

**نا ملګری:**

ځکه مې پرېښوده چې له دې دومره مودو وورسته یې نه وم پیژندلی، که خدای خبر قصداً یې نه پیژندلم؟ یا به یې نشوای پیژندلی...

(۱۱۲)

**زړه نا زړه توب:**

ټول ولاړل او دی یواځې پاتې شو...

(۱۱۳)

**سختی:**

که یې ریښتیا هم د اسمان ستوري پرې شمېرلي وای؟!...

(۱۱۴)

**لوچکي:**

یوه ویل یاره په دې زیارت کې هم ډېر خوندونه دي، هغه بل ځواب ورکړ: هو بلکل دا خو نو کرامات دي... لومړني ور پورې وخندل او یوې ښکلې پیغلې ته یې خوله جینګه کړه او وروځې یې ورته کش کړې...

(۱۱۵)

**عمر:**

لیکوال د سرطان نوی ډول معرفي کاوه او ویل یې چې علاج نه لري، د بدن د مقاومت قوه له منځه وړي، کمزوری کوي دې، ویښتان دې تویوي او بالاخره دې وژني، ویل یې ډاکټران یې نه راسره مني خو موږ د عمر نوم ورته خوښ کړی...

(۱۱٦)

**عمر:**

لکه له یوه هیر شوي خوب نه چې چې را پاڅیدلی یم او په یوه اوږده خوب بیرته ویده کیږم او ښه ستړی وم، خپلې لمسۍ ته یې دا ځواب ورکړ او د ځنکدن خولې پرې راماتې شوې...



(۱۱۷)

**بې وجدان:**

سهار تر ماښامه او ماښام تر سهاره یې بازار ګرم وو، پیسې یې هم ډیرې تر لاسه کولې او مشتریان هم ټول راضي وو، وطن، ایمان، غیرت، عفت او ځینې نور یې په عمده او پرچون ډول په ښه بیه پلورل...

(۱۱۸)

**نصحیت:**

په تنکۍ ژبه یې له پلاره پوښتنه وکړه چې که یو چا ته مخامخ نشم ویلای چې دا فلانی کار مه کوه څه وکړم؟ پلار ورته وویل زوی مې جار شم په یوه کاغذ کې ورته ولیکه او په جیب کې ور واچوه، سهار چې پلار له کور نه واته د کورتۍ په جیب کې یو کاغذ په لاس ورغی چې په کې لیکلي وو: پلاره سګریټ څکول ډېر بد کار دی...

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ دربیمه، ډهلي – هندوستان

(۱۱۹)

**افغانستان:**

انټرنټ ته کېناست او په ګوګل کې یې سرچ کړل: تر ټولو ارزانه وینه نتایج یې ځورونکي وو..

(۱۲۰)

**انتخابات:**

شپون د غونډۍ په سر ناست وو راډیو یې اوریده او ښکته یې خپله رمه څارله؛ په راډیو کې یوه کاندید د ملت او هیواد د ساتنې په اړه خبرې کولې او هغه له خپلې تنهایۍ سره سره په لوړ غږ خندل...

(۱۲۱)

**درد:**

افغانستان؛

د ډېر غمجن کیفیت له امله د ډاکټر له خوا د دې کیسه گۍ د لوستلو توصیه نه کیږي...

(۱۲۲)

**بې هدفي:**

ټول ورک شول... ځکه نه پوهېدل چېرته ځي...

(۱۲۳)

**د ژوند ډرامه:**

د چارلي چاپلين ټول فلمونه مې څو څو ځله کتلي؛ خو د ماډرن ټایمز فلم یې چې گورم خپلې سرگردانۍ مې سترگو ته ودریږي، لکه ژوند چې خطا ایستلی یم در په در مې گرځوي او له ټولو نهیلیو وروسته مې نندارې ته ږدي او نور را خندوي...

(۱۲۴)

**وخت:**

د زمان برېوکۍ کله کله ځینې خلک هسې په هوا کړي چې په دې ویروونکې ژوره کې به هر بوټي ته لاس اچوي خو له بیخه به راخیژي البته هغه برېوکۍ چې درانه شیان راپورته کولای شي عادي برېوکۍ عادي شیان همیشه گډوي...



(۱۲۵)

**حرص:**

هومره حریص سړی وو چې ویل یې له خدای نه راضي یم چې هر څه مې غوښتي راکړي یې دي خو خدای دې یې بیرته رانه اخلي نه...

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ څلورمه، ډهلي – هندوستان

(۱۲٦)

**ورکه:**

د پټ پټوني لوبه وه؛ هغه پټه شوه او دی لا اوس هم له ځان سره شمار کوي...

(۱۲۷)

**بمبار:**

ماشوم په خاورو پټ وو؛ او یوه کلیوال چې کالي یې د هغه د پښو او بدن په وینو رنگ شوي وو په خپله غیږ کې اوچت کړی وو، ماشوم په ویریدلي او حیران انداز نړیدلو کوټو ته کتل او یوې نړېدلې کوټې ته یې په اشاره کې په سختۍ سره وویل: چې بمبار شروع شي زه غوا را ننباسم او ادې دغو په هغه کوټه کې پټ شي...

(۱۲۸)

**خودخواهي:**

ځینو خلکو ته چې ووایې چې ته ډېر پوهېږې، سم برداشت نشي کولای فکر وکړي چې یواځې دوی پوهیږي...

(۱۲۹)

**ټکر:**

له توري کڅوړې نه غوښه، رومیان او سبزي په سړک باد باد پراته وو، هغه د موټر تر ټایرونو لاندې لاس او پښې رپول او خلکو یې د پېژندلو هڅه کوله...

(۱۳۰)

**تقدیر:**

پرون له اوږده سفر نه را په کور شوی وو، ویل یې ډېرې کیسې لرم خو نن له کور نه را ونه واته، دنیا همدومره وه...

(۱۳۱)

**غم:**

له هغې شپې وروسته سبا شپه د بېګانۍ په څیر نه وه، ویر او ژړا حتی له دیوالونو هم اوریدل کېده...

(۱۳۲)

**سیاست:**

ویل یې اوس به دا شرم چیرته وړو؟ ما ویل تاسې سیاستمداران خو یې همیشه افغانستان ته وړئ...



(۱۳۳)

**زورګویي:**

کله به یې تر موټره منډې کړې او ضعیف سپین ږیري ته به یې چې نرې نرې زګیروی یې کاوه په نګران انداز وکتل او کله به یې په واټ کې په ولاړ کتار موټرونو کې وراندې منډه کړه او د لارې د خلاصیدو پوښتنه به یې وکړه؛ ګړۍ وروسته سړی د موټر څنګ ته ناست وو، دواړه لاسونو یې سر ته نیولي وو او خلک په موټر ور ټول وو؛ ټرافیک غږ کړ: مارشال تیر شو!...

(۱۳۴)

**دوه مخي:**

ور تر غاړې وت، څه شیبه یې په غیږ کې نیولی وو او ورته ویې ویل: یاره ستا په ملګرۍ افتخار کوم، زه خو مصروف وم خو ته وخت ناوخت را باندې ګرځه زه بل تا غوندې نږدې دوست کله لرم؟، خو چې ملګری یې له کوټې ووت ناست کس ته یې په موسکنده لهجه وویل: وبښه یاره معطل شوې زه له دې خلکو نه سخت په تنګ یم...

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ پنځمه، ډهلي – هندوستان

(۱۳۵)

**نهیلي:**

چې ژوند په چاقو هم نیمیدلای شي!! نو ته هم مجبور یې چې په دې سترېو پیاده روونو کې د مرګ تمرین وکړې!...

(۱۳٦)

**هیله:**

د سلمانۍ هینداري ته ودرید، نویو جوړو کړو ویښتانو او تازه شوې ځیرې ته څه شېبه په دقت ځیر وو، موسک شو او له لنډ اسوېلي وروسته د لوی واټ په لور روان شو، د ښکلي موټر څنګ ته ولاړ کس پرې غږ کړ: پنچرمین مې نه لیده داسې په ځان مین مې نه لیده...

(۱۳۷)

**یو طرفه علاقه:**

ښایي دا علاقه یو طرفه وه چې دا دي یو کال او څو ساعته کیږي چې هره شپه یې سترګې دي چې هغه به پښېمانه شي خو نه پښېمانه کیږي...

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ شپږمه، ډهلي – هندوستان

(۱۳۸)

**بې وزلي:**

د رسټورانټ په ښکتني کونج کې یې په یوه میز کباب خوړ، ماشوم یې د میز څنګ ته په غولي ناست وو او د هغه بوټونه یې رنګول خو هڅه یې کوله چې د هغه خوراک ته ونه ګوري...

(۱۳۹)

**ډالۍ:**

ملګرو یې چې خپلو میندو ته ډالۍ اخیستې، هغه هم امسا ورته اخیستې وه چې لیدلو ته یې ورغی د قبر تر خوا یې ورته کېښوده...



(۱۴۰)

**تنهايي:**

د ژوند سره او د تنهايۍ شپه یې د یوه چا په یاد ګرموله...

(۱۴۱)

**کار:**

په چوک کې کار ته د منتظرو ګڼو کاریګرو په منځ کې موټر ودریده، هغه هم ور منډه کړه خو درې کسان چې اول موټر ته ختلي وو لاړل، بیرته په خپل ځای ودریده او تر مازدیګر پورې یې هر راتلونکي موټر ته ورمنډه کړه...

(۱۴۲)

**ړوند:**

سپین ږیري کس د قرغې او لغمان ښکلې منظرې تشریح کولې لور یې څنګ ته ناسته وه او ترمې اوښکې پرې راتویېدې، خو د لور د پزې له کشولو پوه شو چې ژاړي، دمه یې وکړه او ویې ویل: ژاړه مه بچۍ، د ړندیدو مې پنځلس کاله کیږي...

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ اوومه، ډهلي – هندوستان

(۱۴۳)

**هر څه هیله:**

د مغز او تفکر د کتابتون ډیرې ګردجنې تاخچې یې پسې پلټلې وې خو د واقعیت شوو ټولو هیلو ریښتیانۍ کیسه یې نه وه موندلې...

(۱۴۴)

**ځان بدلون:**

د ځان او ټولنې او خپل ژوند له مطالعې وروسته یواځې یوې نتیجې ته رسیدل معمول دي او هغه دا چې هغه څوک چې باید بدل شي ته یې...

(۱۴۵)

**مظلومه پښتنه:**

په ښکلې او معصومه څیره یې یو ډول سپیره ګرد پروت وو، په لویدلو کاسو کې ننوتې د اوږدو بڼو سترګې یې پټې وې، او په نریو چاودیدلو شونډو یې وینې پټ پټ ولاړې وې، ډاکټر په سوچ کې ورته کتل او خپلې اوښلنې سترګې یې وچې کړې؛ په داسې حال کې چې سپین رخت یې پر مخ ورکشاوه تر شونډو لاندې یې وویل: دومره پوهیږم چې قاتل به دې خدای نه بښي...

(۱۴٦)

**عوام فریبي:**

د عاجزۍ او سپیڅلتیا دا په زړه پورې او خواږه حرکات هماغه بربنډه فاحشه ګري ده چې ما او زما همزولو تر نن ورځې د سهار په خړه کې تشخیص نکړای شوه...



(۱۴۷)

**ځانوژونه:**

هغې له څاه نه اوبه را ایستې او په کوټه کې یې د خواښې او خاوند جنګ او تیزو تیزو خبرو ته غوږ نیولی وو، خاوند یې په غوسه کې له کوټې ووت او په برنډه کې پروت لرګی ئې واخیست او په چټکو ګامونو د څاه په لور روان شو. د اوبو له ډوب غږ سره د څاه پړی ښوریده؛ د څاه پر غاړه څوک نه وو...

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ اوومه، ډهلي – هندوستان

(۱۴۸)

**نا آشنا:**

هغه په لومړي ځل دومره ډیر پلی سفر کړی وو، د دغه ناآشنا ښار کابو هره کوڅه یې ګز او پل کړه، ما خوستن ناوخته چې په پارک کې په څوکۍ ویده کېده د ښار نقشې ته چې په پارک کې په یوه څنډه نصب شوې وه ځیر شو او ترخه موسکا یې په شونډو خپره شوه...

(۱۴۹)

**بې وزلي:**

ډیره شیبه په رسټورانټ کې په یوه څوکۍ ناست وو او شاوخوا یې کتل، هیڅ یې ونه خوړل، او په وتلو کې یې لاس پریمینځل او په هینداره کې خپلې څیرې ته موسک شو...

(۱۵۰)

**خوب:**

ځینې وختونه خوشحاله شم چې تر ناوخته پورې خوب نه راځي ښايي خوښي مې له دې امله وي چې څو شپې زياتې په غرېدونکو سترګو په دې نړۍ کې حضور لرم...

(۱۵۱)

**ژوند:**

ژوند لکه لنډه کیسه چې کشمکش او غوټه نه وي پکې پای یې بې خونده راځي...

(۱۵۲)

ژوند راته لکه ترخه او اوږده کیسه داسې شوې، ډېر وخت مې زړه وغواړي چې ژر یې یوه خوشحالوونکي پای ته ورسوم او یا کیسه ګۍ ترې جوړه کړم...

(۱۵۳)

**فاتح:**

د فاتحو لښکرونو د کاروان په سر کې د یوه موټر په بانټ ناست وو، خو د فتحې خلاف یې اوس لکه غل د تېښتې لاره کتله...



(۱۵۴)

هغه به هره غرمه کور کې سابه وخوړل او بیا به د ښار مشهور هوټل مخې ته دریده او غاښو کې به یې ډکۍ واهه. چې یو ورځ ورباندې درز شو. ډکۍ اوس هم هلته ویاله کې پروت دی...

طرحه: مطیع الله عابد

(۱۵۵)

**غچ:**

شپه ناوخته له کوره ووت او غوښتل یې خپل غچ واخلي، خو د کوڅې په سر کې چې سپي پسې منډه کړه هم یې پښېمانه کړ او هم یې کور ته ستون کړ...

طرحه: مطیع الله عابد

(۱۵٦)

**خپل ملک:**

د دې نړۍ نړدې تر هغه بله سره لاړم، دنیا آخر ته نه رسیده، ډېر ځایونه او ډېر خلک پکې وو خو هیڅ ځای یې کابل او هیڅوک یې کابلی نه وو...

(۱۵۷)

**د انتحاري برید قرباني:**

د هغه هوټل تر مخ د موچي سندان تر اوسه په خپل ځای ایښی، هوټلي وايي چې دا څو ورځې وړاندې یې زوی راغی ویل یې چې د پلار دعاګوی مې خلاص شي زه یې په ځای کینم...

(۱۵۷)

**یاد:**

له هغه برید راهیسې اوس د هوټل مخې ته په لرګینه کوټه کې بل کبابي ولاړ وي خو په دې تفاوت چې اوس دا لکه هغه مرحوم دا همیشه موسک نه وي...

(۱۵۸)

**ډار:**

تورې تیاره کوټې ته ورننوته، په ډار ډار کې له لګیدلي تیلي لایټین سره مخکې ور روانه وه او د سترګو تر کونجویې په ځیر ځیر شاوخوا کتل او غوړونه یې له هر وخت زیات بیدار نیولي وو، کوچنۍ ټکان یې وخوړ ناره یې کړه او لایټین یې لاسه پرېوت...

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ لسمه، ډهلي – هندوستان

(۱۵۹)

**رېښتیا/ درواغ:**

ځینې وخت داسې درواغ اورې چې سره له چې پوهېږې درواغ دي د رېښتیاوالي هیله یې کوې خو ځینې وخت داسې رېښتیا اورې چې د دروغ والي تمه یې کوې؛ هسې ما ویل ځینې وخت درواغ تر رېښتیاوو ښه وي...



(۱۶۰)

**د ژوند خوند:**

په دې مو فکر کړی چې د انګلستان د ملکې الیزابت چې هر څه یې غوښتي ور رسیدلي قدر به ډیر وي که د یوې نوم ورکې معشوقې؟ او د یوې بې وزلې عاشقې جوړې به ژوند خوندور وي که د ملکې؟؛ هو دا منم چې موږ د دواړو ډولونو ژوند نه دی تجربه کړی...

(۱۶۱)

**بې رحمي:**

هغه په لارو، دښتو او غرونو کې یې چې د بې رحمانه مرګ له وېرې په ټول انساني ډار د عجز ناري کړې وې! په دې کښو او بې رحمه همنوعانو کې یې هیڅا نه دي اورېدلې او حتی اوس هم ځان ناګاره نیسي ته وا هومره تقوا دار دي لکه تیرې...

(۱۶۲)

**د نعمتونو کډه:**

هغه ویاله کې چې همیش به ډکه بهیدله اوس د ماشین د تیلو له خلاصون سره وچه شي...

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ یولسمه، ډهلي – هندوستان

(۱۶۳)

**ډېر بې وزلان:**

دلته بې وزلان او مظلومان هومره ډیر شوي چې نور یې خلک له حضور سره عادت شول او بیا بیا د چا سترګې ورته اوښکې نه کوي...

(۱۶۴)

**عملي فکر:**

د یوې شیبې عملي فکر او یوې ورځې فکري کار یې د فکرونو او عملونو لپاره نوې لارې وایستې او اوس یې له لیدلو خوند اخلي...

(۱۶۵)

**همدومره ساده:**

خودکفایي یې په خپل لاس په جوړه شوې زانګو کې د ماشوم په زنګیدو کې کتله او د دې تجربې لیکل یې تلپاتې اثر شو...

(۱۶۶)

**زړه ماتي:**

ځینې وخت ویلو ته بلا کیسې لرم؛ خو زړه مې هومره مات وي چې د لیکلو حوصله یې نه وي راسره، خپګان بدې کانې کا...

(۱۶۷)

**د وطن خدمت:**

موږ د زمان څه دردونه ونه ګالل، څه د زړه وینې مو ونه خوړې او څه خطرونه مو په سر ونه منل او څومره به نور هم ګالو، داسې ښکاري چې په دې قربانیو کې مو هم غدر کړی...



(۱۶۸)

**لټي:**

د زردالو د زړې ونې خوا ته نوې راشنه شوې ونه چې په را ایستلو یې زړه نه کېده او پاللو ته یې له وسه؛ اوس تر نورو ونو ډېره ډکه وي خو ټول یې ترخکه بولي...

(۱۶۹)

**بې عزمي:**

دا پنځم کال دی چې وخت نا وخت راته د بحث په پای کې وایي بس دا مې وروستی سګریټ دی...

(۱۷۰)

**ژوند:**

شاید ډېرو کسانو په خپله دې پوښتنه ژور فکر نه وي کړی چې ستا ژوند ښه تیرېږي؟ ...

(۱۷۱)

**پلار:**

پلار ته د تحفې په اخیستلو مې ډېر وخت فکر کړی؛ یو څه ګران دی چې سړی ښه انتخاب وکړي؛ ته وا دنیا هم ځینې وخت چا ته ناوړ تحفه وي...

(۱۷۲)

**مینه:**

د مینې کلمې له هر هر چا او هرې خولې څخه هغه ځای ته نه رسي چې باید ورسیږي...

(۱۷۳)

**د وطن یاد:**

د وچو مېوو په مارکېټونو کې ګرځېده، هر رنګ مېوې ته به ځېر شو خو په بې میلۍ به ترې تېر شو، ملګري به یې کله ده ته او کله رنګارنګ مېوو ته وکتل، له ډېرو ګرځېدو وروسته یې وویل: ته بلاخره څه لټوې، ځواب یې ورکړ: لکه یو ډېر ورک خوند مې چې په خوله کې وي، لکه د کلي د سنځلو...

(۱۷۴)

**د لوبو پېښه:**

په دا ځل پټ پټوني کې یې هڅه کوله چې داسې ځای ځان پټ کړي چې هیڅوک یې ونه مومي، په خندا خندا کې یې په خپل فکر کې بام انتخاب کړ او لاړ، خو څو شیبې وروسته ټولو په آسانۍ وموند حتی د کلي او کوڅې خلک هم راټول شول او له لوړ بام څخه یې یې د راپرېوتو لاملونه پوښتل...

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ پنځلسمه، کابل، قرغه

(۱۷۵)

**ول خرجي:**

ویل به یې چې په لس او شلو روپیو د چا دنیا نه ختمېږي؛ خو هغه ورځ د کرایې لپاره لس روپۍ کمې وې ټکسي وان ته یې قسمونه اخیستل چې که ادرس راکړې کور ته به یې دروړم...

د ۲۰۱۴ د فبرورۍ شپاړسمه، کابل، قرغه



(۱۷٦)

**ځان تېر اېستل:**

ښه خوب یې ولیده ځکه یې هم له راویښېدو سره بیا هم په زوره سترګې پټې کړې او هیله یې وکړه چې دوام یې وګوري...

(۱۷۷)

**بریا:**

خپله یوه هیله یې ریښتیا ولیده او د بل داسې فکر په اړه سوچ یووړ چې بریا ته ورسیږي او بیا یې په خوند څو وختونه خپل زړه ځوان ووینې...

(۱۷۸)

**تمرکز:**

په سوچ کې یې چکش ور واخیست او ترل شوې دروازې ته ودرېده څو ځله یې په لاس کې ګنې کلۍ یوه یوه په قلف وازمویلې بیا یې نو په قلف د چکش څو مسلسل وارونه وکړل خو مات نشو، ګوته یې خوږ شوه او په خوله کې یې ونیوله، په بل لاس یې بیا کلي په قلف کې په ډېره آرامۍ او تمرکز سره وڅرخوله او قلف خلاص شو...

(۱۷۹)

**د سپرو په تمه:**

هر یوه ته به یې د دریدو اشاره کوله خو ټول موټر په چټکۍ ترې تېریدل، بیا به په چټکو ګامونو د سړک په غاړه روان شو، نیم ساعت وروسته به په دوه موټرو کې یو حتمن ورته دریده خو هغه به ترې تیر شو او خپلې لارې ته به یې په چټکو ګامونو دوام ورکاوه...

(۱۸۰)

**بعث بعدالموت:**

له مرګ وروستۍ پیښې له خپل وجدان سره د سولې او جګړې داسې انځور راته ښکاري چې پکې به مې روح ډېری وخت زما له اوسني ژوندي بدن نه په ګیلو سر وي ...

(۱۸۱)

**کمزوري:**

چې په یوه چا کې کمزورۍ نه وي د خپلو کمزوریو په اوربدو سره جنګ نه کوي...

(۱۸۲)

**د افغانانو سختي:**

په آهنګرۍ کې یې د پلک درنو ګوزارونو ته په سوچ وړي انداز کتل چې سره کړې اوسپنه به له هر ګوزار سره په بیلابیلو لورو خپره شوه او هغه په کاملاً مختلفو لورو د افغانانو په اوسپنیز تګ فکر کاوه...



(۱۸۳)

**ذهنیت:**

دوه ځوانان د کلیسا په مخ کې ولاړ وو، یوه دا بل ته وویل: کیدای شي چې د دعا پر مهال سګریټ هم وڅکوم؟ هغه وویل ورشه له کشیش نه پوښتنه وکړه؛ هغه هم ورغی او له سلام وروسته یې پوښتنه وکړه: آیا کیدای شي چې زه د دعا پر مهال سګریټ هم وڅکوم؟ کشیش ځواب ورکړ: نه ځویه دا مذهب ته توهین دی. ځوان بیرته له کلیسا راووت او ملګري ته یې کیسه وکړه، ملګري ورته وویل خپه کیږه مه ستونزه ستا په سوال کې ده صبر زه پوښتنه وکړم؛ ورغی او پوښتنه یې داسې وکړه: کیدای شي چې د سګریټ څکولو پر مهال هم دعا وکړم؟ کشیش ځواب ورکړ: بلکل کیدای شي!...

(ژباړه او لنډون)

(۱۸۴)

**خوشبختي د بل په خوشبختۍ کې:**

ویل یې هر یو به په خپله لاره ځو او خپل کار به کوو، ته هم دعا او هڅه کوه او زه به هم دعا او هڅه کوم وګورو چې د چا دعا ژر قبلیږي او ژر خپلو غوښتنو ته رسیږي، د لومړي کس ټولې غوښتنې پوره شوې او هومره مغرور شوی وو چې له ملګري یې پوښتنه ونکړه چې ولې یې غوښتنې قبولې نشوې؟ خو حقیقت دا وو چې د دوهم ملګري ټولې دعاګانې او هڅې دا وې چې د ملګري دعاګانې یې قبولې او غوښتنې یې پوره شي چې همداسې وشول...

(۱۸۵)

**بدنیتي:**

هغه کسان چې یواځې د ځان په اړه فکر کوي داسې مثال لري لکه د یوه ډک دسترخوان پر سر ناست داسې کسان چې اوږدې قاشقې یې په وچ او نه قات کیدونکي لاس کې وي چې اوږده او وچ لاس یې خپلې خولې ته نه را کږیږي خو د دې پر ځای د خپل مقابل لوري خولې ته ډکه قاشقه ور پورته کولای شي چې نه یې کوي...

(۱۸٦)

**(...)**

دوه مذهبي راهبان د سفر پر مهال یوه سیند ته ورسیدل، د سیند په غاړه یوه ښکلې نجلۍ وه چې له اوبو نشوای پورې وتلای، یوه راهب هغه په غیږ کې واخیسته او له اوبو یې پورې ایسته او دواړه راهبان لاړل او خپل اصلي مقصود ته ورسیدل، څو وخت وروسته یوه راهب هغه بل ته وویل: پردیو ښځو ته نږدې کېدل ګناه ده خو تا هغه ورځ هغه نجلۍ په غیږ کې واخیسته؛ لومړي راهب په آرامۍ ځواب ورکړ: ما له هغې نجلۍ سره مرسته وکړه له اوبو مې پورې ایسته او همالته مې خوشې کړه خو ته تر اوسه پورې ورپورې نښتی یې...

(طرحه د یوه بل لیکوال)



(۱۸۷)

**نږدې ملګري:**

یو سپین ږیری سړی چې له خپل یوه آس او یوه سپي سره په لاره کې پرې یو تندر را پرېوت او ساه یې ورکړه، له مرګ هغه خوا وړاندې کش شو، یو شین پیاده رو ورته ښکاره شو چې له خپل اس او سپي سره مخ پر وړاندې پرې ورغی، ډېر تږي وو، څه لاره وړاندې یوه دروازه وه چې جنت پرې لیکلي وو، ور وګرځیده او ساتونکي ته یې وویل چې ډېر تږی یم، هغه وویل هغه چینه اوبه لري خو اس او سپي ته دې اجازه نشته، سړی نهیلی شو او بیرته یې لارې ته دوام ورکړ، له ډېر مزل وروسته له چمنونو او شنو اوبو د چینو یوه بل ځای ته ورسید چې یو ساتونکی یې مخې ته ناست وو، سړي ورته وویل چې ډېر تږي یو، هغه ورته وویل چې وړاندې ورشئ هر څه چې څښئ او خورئ کولای شئ، سړي پوښتنه ترې وکړه چې دا ځای څه نومیږي؟ ساتونکي ځواب ورکړ: جنت، هغه ورته وویل هلته وړاندې هم یو بل څوک ستاسې له نامه نه ناوړه استفاده کوي مخه یې ونیسئ. ستانونکي ځواب ورکړ، نه پرېږده له موږ سره مرسته کوي ځکه هغه کسان چې غواړي خپل نږدې ملګري پرېږدي همالته پاتې کیږي...

(ژباړه او لنډون)

(۱۸۸)

**(ځوابونه)**

په عمومي تشنابونو کې په یوه کې ناست وو، سرې ورغی او ویې ویل: سلام څه حال دی؟ هغه په یو څه شرمیدلي آواز ځواب ورکړ: ښه یم. سړي بیا وپوښتل: څه کوې؟ هغه ځواب ورکړ: نو سړی دلته څه کوي؟ هغه بیا پوښتنه وکړه: ښه اوس هلته درتللای شم؟ هغه په لږ څه عصبانیت سره ځواب ورکړ: نه زما کار لا نه دی خلاص، پوښتونکي سړي لږ څه ځنډ وکړ او ویې ویل: صبر زه به وروسته بیا زنګ درته ووهم، دلته کوم لیونی په تشناب ننوتلی پوښتنې مې ځوابوي.

(۱۸۹)

**(ستر مصیبت)**

د کلي مشر وویل چې ستر مصیبت په لاره دی، کلیوالو ترې د حل لاره وغوښته هغه وویل: د غونډۍ په سر هغې پیاوړې غوجلې ته ټول ځاروي نباسئ او خپله تر دریو ورځو له کورونو مه راوځئ؛ درې ورځې وورسته خلک په دې تمه له کورونو را ووتل چې مصیبت به تېر وي او ورغلل چې خپل مالونه را خوشي کړي، خو له خالي غوجل سره مخ شول چې په دروازه یې لیکلي وو، ځئ کورونو ته مو لاړ شئ چې تر دې ستر مصیبت درته سترګې په لاره دی...

(طرحه د یوه بل لیکوال)



(۱۹۰)

**(دیوجانس)**

دیوجانس [1] چې د خپل ژوند د ځانګړې ډول له امله د ښار ټولو خلکو پیژانده یوه ورځ په داسې حال کې چې له یوه پله څخه تیریده له یوه شتمن کس سره مخامخ شو چې له شتمنۍ پرته یې له نورو بل زیات امتیاز نه درلوده. له دوی دواړو نه باید یو څنګ ته شوی وای تر څو هغه بل تیر شي. شتمن کس وویل: زه نه څنګ ته کیږم تر څو یو ولګرد تیر شي. دیوجانس خواته شو او ویې ویل: خو زه دا کار کوم...

پائولو کوئیلو

(۱۹۱)

**مساپر:**

د هغه نوم مې اورېدلی وو چې ډېر ستر عالم او زاهد دی، ورغلم، په کوټه کې یې یواځې کتابونه، یو کوچنی میز او یوه ټوټه فرش لیدل کېده، ما ویل دا خو ستاسې کور دی، د کور سامانونه مو چیرته دي؟ ویل یې ستا چیرې دي؟ ما ویل زه دلته مساپر یم، ویل یې زه هم...

[1] د یو جانوس یا په فرانسوي بڼه دیوژن (Diogenes of Sinope) (۳۲۳ – ۴۱۲ له زیږد وړاندې) د یونان یو فیلسوف و چې د (Cynic) یا کلبي (یا سپي صفته) فلسفي فکر بنسټګر بلل کیږي. د هغه په اړه ګڼ روایات شته چې ډیری یې د ساده ژوند په اړه د هغه د هڅونو او یا سپارښتنو ښکارندویي کوي.

(۱۹۲)

**موثره لاره:**

وايي يوه سپين ږيري سړي يو نوی کور کرايه کړ او پکې اوسېده، خو چې ښونځی به رخصت شو د ښونځي يوه ډله شوخ زده کوونکي به راټول شول او د کور مخې ته به يې تر ډېره شر او شور جوړ کړی او قوطي به يې په لغتو وهل او نور کارونه به يې کول، يوه ورځ سپين ږيری کس ورغی او را ټول يې کړل او ورته ويې ويل چې زه هم په ځوانۍ کې ستاسې غونډې شوخ وم او اوس چې عمر راباندې تېر شوی ستاسې دا خوښي چې وينم ډېر خوشاله کيږم، زه به د ورځې هر يوه ته سل سل افغانۍ ورکوم دلته په همدې قسم سات تيری کوئ تر څو زما هم سات تير وي، هلکانو په خوښۍ سره ومنله او کار ته يې دوام ورکړ، څو وخت وروسته سپين ږيری بيا ورغی او ځوانان يې راټول کړل او ورته ويې ويل چې هغه ډېرې پيسې نلري ايله لس لس افغانۍ دوی ته د ورځې ورکړای شي، ځوانانو په عصبانيت وويل: ته څه فکر کوې چې موږ به په لسو روپيو دا دومره انرژي مصرف کړو، وخت ضايع کړو، ځه بابا نور نشو کولای؛ او سپين ږيری له دغه شورماشور نه په امان شو...

له يوه بهرني داستان څخه په الهام اخيستو



(۱۹۳)

**د واورې سفر:**

په کلي کې آوازه خپره شوه چې له دښتې څخه غرونه اوريدل شوي چې څوک په واورو کې پاتې دي، په نيمه شپه کې کليوال جومات ته راټول شول چې پسې ووځي، خو په دښته کې له ګرځيدو سره يې څوک نه وو موندلي، په سبا يې مساپر وموند، چې په لاس کې له شته کاغذ سره يخ وژلی وو، په کاغذ کې ليکلي وو: که دا کاغذڅوک مومئ پوه شئ چې زه ويرې او لوږې نه يم وژلی بلکه يخ وژلی يم ځکه د لوږې او ويرې لپاره مې دروازې وډبولې چا مې په مخ دروازه خلاصه نکړه ښايي دوی به پوهيدل چې لوږه او وېره څوک نه وژني...

(۱۹۴)

**ایمان:**

یو شتمن کس د کابل قلعه فتح الله مسجد ته نږدې یو رسټورانت جوړ کړ چې په کې به موسیقي او رقص هم وو او د مشتریانو لپاره به مشروب هم ورکول کیده. د جومات ملا به هره ورځ د خپل وعظ په پای کې دعا کوله چې د رسټورانټ خاوند خدای په قهر او غضب اخته کړي او آسماني بلا په دغه رسټورانټ نازله کړي. د رسټورانټ د فعالیت به یوه میاشت نه کیده چې رعد او برق سخت توپیان رسټورانت وران کړ. ملا بله ورځ په ډېر غرور د حمد او ثنا له ویلو وروسته د فساد د دغه کور د نړیدو له امله خلکو ته مبارکي ورکړه او ویې ویل: که مومن د زړه له تله له خدای ج یو څه وغواړي له هغه دربار څخه نه نهیلی کیږي. خو څه موده وروسته د رسټورانټ څښتن محکمې ته شکایت وکړ او د مسجد له ملا څخه یې د خسارت غوښتنه وکړه چې ملا او مومنانو دا ادعا ونه منله. قاضي دواړه لوري محکمې ته ور وغوښتل او د دواړو لورو د خبرو له اوریدو وروسته یې وویل: نه پوهېږم چې څه ووایم د دواړو خبرې مې واورېدې:

یوې خوا ته ملا امام او هغه مومنان دي چې د دعا په تاثیر ایمان نلري !

او بلې خوا ته هغه شراب فروش چې د دعا په تاثیر ایمان لري!

(پائولو کوئیلو)

(۱۹۵)

**شهرت:**

شهرت دا بدګڼه لري چې هر څومره چې مشهوریږې لکه تر ټولو لوړ بام ته چې پورته کیږې او که له هغه ځایه دې لګن را پرېوځي نو ډېر زیات غږ به کوي؛ درست لکه هغه غشی چې هر څومره شاته کش کیږي هومره ډېر واټن وهلای شي...



(۱۹٦)

**عذاب وجدان:**

مخامخ یې سترګو ته وکتل او په لاس کې یې کڅوړه ورکړه او ویې ویل: واخله ټول همدا دي، هغه یواځې دومره وویل: مننه؛ اخیستونکی خو په خپل کار پسې لاړ او هیر یې شول خو هغه له ګڼو دا رنګ فکرونو سره پاتې شو چې شاید هغه هم زما غوندې ډېرى شی پټ کړي وي...

(۱۹۷)

**سخته ورځ:**

په ټلفون کې یې په بنده بنده ساه خبرې کولې: چې درپښنه شي بیا سرې دغسې له پیسو او ملګرو او هر ډول شتو خلاص شي ګورته خو یو کار وکړه چې په دې کې یې د مبایل چارج خلاص شو او بند شو...

(۱۹۸)

**(قسمت)**

د کور زنګ ووهل شو؛ هغه یې لور ور واستوله او ورته ویې ویل چې ځواب ورکړه چې پلار مې په کور کې نشته، لور یې دروازه پرانستله او هماغه خبره یې ورته وکړه، سرې روان شو او ویې ویل بس نو قسمت به یې نه وو...

(۱۹۹)

**باور:**

باور یې دا وو چې باور به نه کوي خو ډېرى وخت به په خپلو باورونو بې باوره وو...

(۲۰۰)

**مطالعه:**

وېپ لوستل وېپ لوستل خو په ذهن کې یې هیڅ نه وو پاتې لکه یو بوی یې چې له پزو تېر شوی وي؛ یا یې یو غږ له غوږو تیر شوی وي او یا یې هم... خو دا لوستلي د ذهن له پردو وتلي وو او په یوه بله توره تخته نښتي وو چې وخت ناوخت به یې سترګک واهه...



# مننه او کور ودانی

اړینه بولم چې له ټولو هغو ملګرو او دوستانو څخه چې له بیلابیلو لارو یې د کیسه ګۍ ټولګې په خپرولو کې زما ملاتړ وکړ، څه په ټولنیزو شبکو کې د تشویق له لارې او څه هم مخامخ او د عمل په ډګر کې، دلته به د نورو هغو ملګرو تشویق چې په دې ملاتړ کې یې رول لوبولی د فیسبوک له شبکې څخه د بېلګې په توګه را نقل کړم، بیا له ټولو ډېره مننه او د ټولو دې کور ودان وي.

البته یوه یادونه باید وکړم چې دا تبصرې مې د ملګرو له اجازې پرته له بیلابیلو پوستېونو څخه راکاپي کړې دي، هیله ده چې ناسم کار مې نه وي کړی.

مطیع الله عابد چې زما یې لنډ لیکل او په فیسبوک ټولنیزه شبکه یې له خپلو مینه والو سره د هغه چلند خوښېدل یوه ورځ مې ورته ولیکل ما ویل په دې اړه دې نظر راته ولیکه، هغه هم په مینه دا کلمات راته واستول.

# کیسه گۍ

وايي چې خلک يو ميوزيم کې د خپل ګایډ يا لارښود سره ګرځيدل.هغه ګایډ به ځان ډېر هوښيار ښودو چې د هرڅه د تاريخ او تاريخچې نه خبر دی. يو ځای يوه بې نومه کوپړۍ پرته وه. خلکو پوښتنه وکړه، دا کوپړۍ د چا ده؟. هغه ورته وايي دا د افلاطون کوپړۍ ده. خلک وايي واه واه.ګومره پخوانی. بيا چې مخکې لاړل نو هلته يوه وړه کوپړۍ ايښې وه.په هغې بې د افلاطون نوم ليکلی و. نو خلک ګایډ ته وايي چې دا څنګه. هغه هم د افلاطون کوپړۍ وه او دا هم ده؟ نو چالاک ګایډ ورته خاندي او وايي: دا د افلاطون د ماشومتوب کوپړۍ ده.
ګران عبدالله الهام جمالزی صاحب هم د داستان د ليکلو نه کيسه ګيو ته راغلی. وايي چې دا د داستان لمسۍ ده. ښه خبر ده، د فاسټ فوډ زمانه کې څوک د پخلي انتظار کولی نشي. خلک خو هرڅه په ولاړه ولاړه کوي. حتی چې لوستل هم. جمالزي صاحب هم د وخت ضرورت درک کړی او لنډ ليکل کوي. بلکې ډېر ښه يې ليکي.
جمالزي صاحب خلک د ابراهيم ادهم په پله روان کړل او خپله د حميد حسن په پل روان شويدی. لنډه منډه او تيز ګزار. ما خو د دوي په لنډو کيسو کې هم دا وليدل. خبره لا پوره شوي نه وي چې سرته رسيدلې وي. د جمالزي صاحب جمال او کمال هم دې کې دی، مختصر پر اثر.
دا د فيسبوک زمانه ده. خلک د يو بل مخ ته ګوري. کتاب متاب پاتې دی. نو جمالزي صاحب اول فيسبوک ليکلی اوس کتاب ليکي. لکه مونځ اودس. اول مونځ بيا اودس. خدای دې قبول کړي. دا يې ستر خدمت دی. چې په دې دومره لنډ وخت کې لنډ لنډ او پنډ پنډ ليکل کوي.
زما به ورته يوه مشوره وي چې لوستلو دپاره ليکل نه، د ليکلو دپاره ليکل کوه. د خپل زړه خبر د زړه نه کوه، نو په زړونو به ننوځي.

په درناوي

مطيع الله عابد



**عنايت الله کاکړ:** جمالزی صېب، په پښتو کې د دغه ښکلي ژانر مبتکر ته يې. مبارک دې شه.
الهام صېب..د پښتو ادب تاريخ ليکونکي دې زما دغه څرګندونه وليکي چې په پښتو کې د کيسه ګۍ د ژانر مخترع تاسې ياست. مبارکي درته وايم. زموږ ټولنيزې ناخوالي دومره ډېرې دي چې ايله په کيسه ګيو کې د نغښتو وړ دي، راتلونکي نسلونه که د نر زامن وو، دې ترې کيسې، ناولونه، ډرامې او فلمونه وليکي....!

**حزب الله اتل:** جمالزی صيب دا د کيسه ګيو ټولګه دې چاپ کړه ، ډېرې خوندورې دي، او ما بيا پکې هېر نه کړې، يو کتاب مې له همدې اوسه در باندې پور شو. ...
په پښتو کې ستا ګيسه ګۍ ښه اقدام دی، ويې پاله، اوږد ژوند ورته ولرې.!

**نصرت الهام:** ډېرې دردوونکې کيسه ګۍ ليکې الهام جانه، عاطفې دې پنځولې دي، ناول دې هم ډېر ځايه ژړولی يم او سخت ورته خوشاله شوم چې په ګوتو راغی.. قلم نه دې زار

**همايون غفوري:** الهام صيب ادبي الهامات دې بلا کوي ....

**ريشتين زابلوال:** الهام صاحب ځيني کيسګي خو دومره دردونکي وي چې د پوره کتاب درد پکي ځاي شوي وي په ګوتو دي برکت شه يقينا پښتو ادب ته مو خورا ښه اضافه وروکړه.

**جاويد واک:** جمالزی صيب ډېر ښه روان يې وروره. نن مې يو ملګري سره ستا د کيسه ګيو په اړه بحث وو، د دې شي تر ټولو ښه ځانګړنه داده چې په هر څومره تنګ او بيزي وخت کې يې هم سړی لوستلی شي. بريا دې غواړو!

**ابو حذیفه سباوون (قاضي صاحب سید اختیار سباوون):** واقعا ډېر ښه او کمساری کار دی بریا دې غواړو او موږ به دې دلوست ملگرتیا کوو !

**ذبیح الله حسن:** ډیرښه دا لکه شعر په څو ټکو کې غټ مضمون لیږدوي بله دا چې یو نری غوندې ابهام لري چې زړه راښکونکی دی

**شفیع اعظم اوریاخیل:** الهام صیب سخت درد پکی پروت دی، سخت یې په سوچ کی ډوب کړم.

**عصمت سهار:** په زړه پوری جمالزی صیب،قلم مو همداشان تاند اوسه..

**سعیدالله حقمل:** ستاسې کیسه گیو ته هیح توري نه لرم، هڅه مې وکړه چې زه یې هم ولیکم خو... له خوند او پیغامه ډکې ، لنډې او روانې دي. تل ځوان اوسې، قلم د له لاسه مه لویږه او د غمونو سترگې ړندې شه چې تا نه ویني!

**عصمت الله مایار:** جمالزی صیب دا څومره ښایسته لرۍ هر یوه کیسه گۍ په ځیر لولم کتابونه خبرې دي پکې خو بې له دې چې وخت مې ضایع کړي او یا مې هم ستومانه کړي، خدای دې اوږد عمر درکړي

**ثمرجان منصور:** الهام صیب ټولی کیسه گی دی په زڅه پوری دی

**صدیق الله خوشحال:** چې رشتیا شي،کیسه گۍ سره اوس لږ وخت کیږي بلد شوي یم ،عادت یې په شعر کي څلوریزي ته ورته دي، که په لنډو ټکو ووایم، په کوشني لوښی کي ډېر څه (لږ توري ډېر مفهوم) او ډېري مي خوښي شوې.
په زړه پوري او له پیغامه ډکي کیسه گۍ دي.

**حکمت الله نورزی:** پر قلم دې برکت شه الهام صاحب.



**انعام الله گوهر:** جمالزی صیب ډېر خوندورې دي

**سمیع الله قانع:** جمالزی صاحب زما مسلک او علاقه له ادب او ادبیاتو سره دیره فاصله لری خو ستا هره کیسه گی لولم او دیر زیات خوند تری اخلم. په قلم دی برکت

**نقیب الله خاني خیل:** گرانه ویښ قلم دی تل په مظلومیت وځرخیږه ،\چې هغه احساس راژوندی کړي، کوم چي له کلونو راپدی خوا دمرگې په خوب ویده دی ، طبقاتي توپیرله منځ وړلولپاره قلم له بل هرځه شه وسله دی دغه وسله دتل سره اوسه.

**محمد انور حیدري:** په دي کیسه گۍ . کي دومره خوند دي چي تصوریی نه سم کولای ،،،،، جنتي سي الهام صیب

**عبدالباري نعیمي:** دا کیسې ډېرې ښکلې دي پام چې درنه ها خوا دې خوا نه شي.

**عمران احمدزی:** لنډی او د پند نه ډکی ملغلری دي جمالزی صیب

**قوت خان:** جمالزی صیب! خدای د کیسي لیکني ځانگړې وړتیا درکړې. خوندورې کیسې لیکې. زما درته دا څو ورځې کیږي پام دی. د دوام په هیله.

**عبدالکریم توتاخیل:** یقین وکه چې لوېې لوېې کیسې دومره خوندورې نه دي، لکه ستاسو کیسه گۍ چې څومره له پنده ډکې دي. په استعداد مو ویاړم
هره لیکنه کې سرۍ ته داسې درد احساسیږي لکه هماغلته چې موجود وي او له پوره تاریخچې خبر وي.!

**نذير احمد نذير:** جانانه ښایسته لړئ ده هره یوه برخه یې یو کتاب خبرې لري!

**افغان حسيب:** جمالزی صاحب هیله ده چې روغ رمټ به یاست قدرمنه ستا کیسه ګیو خو زه دومره متاثیره کړی یم چې ما خپله هم د کیسه ګیو لیکلو ته مخه کړې ده واقعا چې ستا کیسه ګیو ما ته یوه مفکوره راکړه که ستاسو اجازه وي نور زه هم په دغه فورم کې کار وکړم او کله نا کله خپلې کیسه گی درسره شریکې کړم !

**ممتاز ارمان:** دکیسه ګیو دا پنه مې ډېره خوښه ده . ژوند ، ژوند جمالزی صاحب .
بريالی اوسې . دکیسه ګیو په څېر مو ټول ژوند ښایسته اوسه !

**بيت الله حميدي:** جمالزی صیب دا د کیسه ګیو لړی مو ډېره په زړه پورې ده د ډېرو شاعرانو تر شعرونو هم!

**نثاراحمد ايثار:** الهام صاحب د لیکلو توري نه ورته لرم، قلم مو ګړندی شه
جمالزی صاحب ډېرې خوږې وړې کیسه ګۍ دي ، قلم مو ګړندی شه!
قادرشاه: په خدای چې زنده باد...!!
دا کیسه ګۍ چې ته یې لیکې په خپل ډول کې ساری نه لري...!!
خوښېږي مې...

**غني هاشمي:** ډېره لنډه، خو له درد او مفهومه ډکه کیسه ګۍ ده ګران جمالزی صیب، د لیکوال کمال همدادی، چې په لنډو ټکو کې ستر مفاهیم ځای کړي، په قلم مو برکت شه !
بیا مو هم سیند په منګي کې ځای کړی ګران جمالزی صیب، قلم مو روان اوسه !



**جلال امرخيل:** جمالزی صیب کور دې ودان ، خوشحاله په دې یم چې له ډېرو ښو لیکلو او ښه استعداد سره یو تر ټولو ښه عادت دا لري چې نقد په ورین تندي زغمې، بیګا مې تقریبان دوه ساعته ستاسې پر فیسبوک تیر کړل، ستا نږدې ټولې کیسه ګۍ مې ولوستې او هرې کیسه ګۍ به د خیال او فکر په یوه بیله دنیا کې روان کړم ، که څه هم دې ته ورته کیسه ګۍ مې په انګلیسي ژبه کې تر دې پخوا هم لوستې وې خو ستا کیسه ګۍ په هیڅ معیار کې له نړیوالو هغو کمې نه دي، په دې یو - دوه - درې کرښو کیسه ګیو کې دې قیامتونه کړي، داسې قیامتونه چې هر د ښه ذوق لوستونکی به دې په ابتکار وویاړي.

او **حسني مبارک عزيزي** چې د پیغام له لارې یې د دې ټولګې د چاپ لپاره پوره پوره وهڅولم!

د ټولو دې کور ودان وي!